# لا خو دې تصوير نيمګړے پاتې دے

## ,, شعري مجموعه ،،

لايق زاده لايق

چې لايق شم د سلګو بدل به اخلم
د دې واړه محرومو بدل به اخلم
د هر جبر او سختو بدل به اخلم
لا مړ نۀ يم خو په طمع د بدلون يم
زما لويه ګناه داده چې پښتون يم

# کتاب پېژندنه


- د کتاب نوم ـــــ لاخو دې تصوير نيمګړے پاتې د ے
- ليکوال ـــــ لايق زاده لايق
- کمپوزنګ ـــــ ارشاد خان پښتواکېډيمي پېښور
- د چاپ کال ـــــ ۲۰۱۲ ء
- شمېر ـــــ ۱۰۰۰
- چاپ زيار ـــــ محمدآفتاب خان او عامر شهزاد
- بيعه ـــــ ۲۵۰ کالدارې
- چاپ ځائے ـــــ پشاور پريس کوهاټ روډ پېښور

د ملاوېدو درک

- يونيورسټي بک ايجنسي خېبربازار پېښور ښار
- د پښتو اکېډيمۍ د کتابونو دُکان پېښور يونيورسټي او ددې ترڅنګه د کتابونو هر لوئے دوکان

# ترون

د ګران او سپېڅلي ,, پښتون ، ، هنرمند ښاغلي فياض خان خويشکي په نوم ځوک چې د خپل ځانګړي انداز په آهنګونو کښې ,, ژوند ته د بيدارۍ او حرکت، ، غږ کوي۔

لايق زاده لايق

# راز

لېونتوب څۀ ته وائي ـ زۀ په خپله هم په دې نۀ پوهېږم ـ ځکه چې د معنٰی په لحاظ دا ګڼ اړخونه لري ـ په عام اصطلاح کښې خو لېونے هاغه چاته وائي چې تنې ئې شليدلې وي ـ ببر سر په لارو کوڅو کښې منډې وهي ـ خلق ئې په کاڼو اولي ـ خو څوک هم د هغۀ د زړۀ په راز نۀ پوهېږي ـ زۀ چې کله کله په خپل زړۀ ګوتې کېږدم نوځان راته هم لېونے ښکاره شي ـ زۀ د خپل ځان په لټون چې کله د يو بل لېوني سره ملاؤ شوم خو هغۀ ماته د لېونتوب تعريف داسې اوکړو ـ

لېونتوب په محبت کښې نور څۀ نۀ دي
د احساس او جذبو ناقراري ده
چې د هر رنګه علاج سره زياتېږي
مينه داسې لاعلاجه بيماري ده

دا لايق زاده لايق وو چې زما نه ورک ورک وو ـ خو نن زمونږ لېونتوب شريک دے ـ د شاعرۍ له کبله زما بې سره او بې خوده احساساتو د لېونتوب ژبه او معنٰی اوموندله او زۀ تر ډېره

حده د ,, ځان ،، په مفهوم پوهـ شوم ـ تاسو يقين اوکړئ چې کله هم زۀ د دوئي سره ناست يم نو پاسيدو ته مې زړۀ نۀ کيږي بس زړۀ مې وائي چې هر وخت دوئي سره ناست وے او دوئي راته په خپل پوست ، نرم او ځانګړي انداز کښې د ليونتوب خبرې کولې خو چې کله هم دغه هر څۀ اورم نو د احساساتو بې قراري مې لاسېوا کيږي ـ د لايق زاده لايق دغه خبرې ستر همزه بابا هم کولې او لکه چې هغه هم په لفظونو کښې د ځان په لټون وو ـ

چې په مزه غوندې خبرې کوم
داسې چېه غوندې خبرې کوم
څوک پرې پوهيږي نه خو خوند ورکوي
څۀ عجيبه غوندې خبرې کوم

او يا داسې :

ستا د ليمو غوندې خبرې کوم
د ليونو غوندې خبرې کوم
نوي الفاظ په کښې مفهوم وي فقط
د اسوېلو غوندې خبرې کوم

زما دپاره نن د خپل ادبي ژوند په وړمبي ځل ډېره د خوشحالۍ او وياړ خبره ده چې د لايق زاده لايق صيب په ليونتوب څۀ ليکم ـ چې ما کله قلم راواخستو نو زما د ليونتوب دنيا نوره هم بې

قراره او په لړزان شوه ـ خو په دغه لړزان کښې يو داسې خوند دے چې ادراک کول ئې د فکر لپوتتوب غواړي لکه چې علامه اقبال وائي :-

*خرد کی گھتیاں سلجھا چکا میں*
*میرے مولا مجھے صاحبِ جنوں کر*

,, لاخو دې تصوير نيمګړے پاتې دے ،، هم د دغه لېونو جذبو اظهار دے ـ چې لفظونه ئې هر چا ته هم دغه آواز کوي چې :

په ژوندون کښې که دې مينه چاله ورکړه
بس هم دغه به دې ناز او هم نياز شي

په مينه

**محمد آفتاب** وياند ريډيو پاکستان
په خپله ژبه او کلتور مئين
درګۍ ، چارسده
**۲۵** ستمبر **۲۰۱۲**ء

# تصوير

ډېر کلونه پس چې ما آئينې ته په غور اوکتل نو . . .
داسې راته محسوسه شوه لکه چې زۀ چرته د حالاتو په ګردونو کښې فنا شوے يم او دا په آئينه کښې عکس د بل چا د ے .ما ځو ځله د ځان د پېژندو کوشش اوکړو خو زما ذهن او زما شعور زما ملګرتيا نۀ کوله .ما به کله په خپلو ويښتو کښې سپينو ډکو ته کتل او کله د خپل مخ بې ترتيبه کرښو ته . . .او چې بيا مې سترګې پټې کړې نو زۀ د تېرو وختونو هاغه دنيا ته لاړم . چرته چې ما د ځوانۍ رنګونه ليدلي وو .چرته چې ما په وړومبي ځل پخپله سينه کښې د مينې درد محسوس کړے وو او بيا . . . بيا زما ذهن ته ,, هغه ،، راغله هم هاغه معصومه خندا .هم هاغه خوارۀ خوارۀ کتل . . .هم هاغسې غاښونه چيچل . . .ماته ياد شو چې يوه ورځ زۀ د خپل کلي د چينار د ونې د لاندې ناست ووم او کتاب مې مخې ته نيولے وو ځکه چې ماسټر صيب راته په کلکه وئيلي وو چې که دا ځل فيل شوې نو نېغ به کور ته ځې . زۀ د ماسټر صيب نه هم يريدم او د خپل بابا د غصې نه هم .زۀ د

کتـاب پـه کربنـو کښـې ورک ووم چـې د چـا د راتلـو ښـکالو مـې واؤريده ـ او بيـا ,, هغـې،، زمـا د لاس نـه کتـاب واخسـتو ـ زۀ نـۀ پوهيدم چې څنګه ترې کتاب واپس راواخلم ـ ځکـه چـې مـا هغـه خفه کولے نشوه ... هغې ماته کتل او ما هغې تـه ... بيـا زۀ پوهـه نشوم چې وخت څنګـه تيـر شـو ـ د ماښـام لـړې خوريـدې ـ د کلـې تولو خلقو مونږ ته هډو کتل نه ... ځکه چې هغه وخت د شـکونو او ګمـانونو وخـت نـۀ وو ـ هغـه وخـت جذبې نيکـې وې ـ فکرونـه سپېځلي وو ، خيالونه ريښتين وو ـ او تولنه پښتنه وه ـ زمـا او د هغـې تـر مينځـه ,,کتـاب،، ډيـره مضـبوطه رشـته وه ځکـه چـې زمونږ سکول يو وو ـ

ماته ښۀ ياد دي چې کله يو ځـل زۀ فيـل شـوم ـ او پـلار مـې خبر شو نو ډير په غصـه ماسـټر صـيب لـه راغـے ـ خـو زمـا ماسـټر صيب ډير هوښيار سړے وو چې زما د پلار پـه سـترګو پوهـه شـو نـو غلـي غونـدې ئـې ورتـه اووے ,,ليـوني دې ډيـرې ښـې نمبـرې اخستي دي ـ خـو مـا ورتـه حـال نـۀ د ے وئـيلے ځکـه چـې بيـا د ے سبق نۀ وائي ،، مـا د ماسـټر صـيب د خولـې دغـه خبره اوريدلې وه او بيـا چـې مـا سـکول تـه پراتـې راؤړې وې نـو هغـې راپـورې ډيـر خندلي وو ـ ماته د خپل سکول يوه يوه لمحـه رايـاده شـوه ـ او بيـا چې کله ما د ځوانۍ په درشل قدم ايخودو نو د هغې په مخ هـم د

حيا لکيرو لوبې شروع کړې وې ـ هغې هم د مخ پټولو چل ايزده کړے وو ... زمونږ تر مينځه فاصلې ډېرې اوږدې شوې وې ـ زۀ به چې کله د هغوي په کوڅه تيريدم نو غاړه به مې تازه کړه ـ هغه به په ديوال راښکاره شوه ـ ماته به ئې اوکتل او بيا به لکه د اسمان د پړق پناه شوه ـ ماته هاغه ورځ هم رايادة شوه چې کله هغه د خپل مور سره زمونږ کره راغلې وه ـ د هغې مور په هغې پوهيده ... او زما مور هم زما په سترګو کښې د هغې عکسونه ليدل ـ خو زمونږ تر مينځ رواجونه ، زولنې وې ـ ماته بيا د خپل عملي ژوند هره لحظه هم سپورے سپورے شوه چې کله مونږ د يو بل نه ورک شو ـ د ليدو امکان مو اخري سلګۍ اوکړې ـ خو په سينو کښې مو د يادونو لمبو ته ځائے ورکړو ...

زۀ ددغه حادثو په جلب کښې روان ووم ـ ائينې ماته کتل او ما آئينې ته ... او خدائے خبر چې ما به د فکرونو په ټال تر کومې ځانګل چې ناڅاپي چغې شوې ـ زما زړۀ يو درز اوکړو ـ ساه مې راماته شوه د يادونو لړې مې اوشليدې داسې راته محسوسه شوه لکه چې قيامت راغلے وي ـ زۀ په منډه د کوره بهر را اووتم ـ په کلي کښې هر چا منډې وهلې لکه چې ... د محشر مېدان ته سرتور سر روان وي ـ د بارودو لوګي خوريدل په جوماتونو کښې اعلانونه کيدل چې زر تر زره د کورونو نه اوځئ

,, خپلو خلقو ، ، ... ,, ,, خپل خلق ، ، شړل ـ زۀ چې د مجبورۍ په حال کښې په سلګو سلګو کښې د خپل پلار نيکه د هاغه ښائسته وطن نه را اووتم ـ چرته چې ټوله مينه وه چرته چې چا هډو د تشدد سوچ نۀ وو کړے ـ چرته چې به د ټولې دنيا سيلانيان ډلې ډلې راتلل او په دغه رنګونو کښې به له ځانه ورک ورک ګرځيدل ـ هاغه خاوره چې خلقو به ورته د ايشياء سوئټزر لينډ وے هاغه چنارونه چې مونږ به پکښې ټالونه اچول لمبه لمبه شو ـ هاغه نخترونه چې د سيلۍ سره به ئې پټې پټې نغمې وئيلې د بارودو په لوګو کښې د يو بل نه ورک ورک شو ـ

زما د خاورې هاغه پېغلې چې چا ئې پړونے نۀ وو ليدلے سرتورې شوې ـ زما هاغه مئيندې چې پښتو به پرې نازونه کول بې کوره شوې ـ ما د خپلو ماشومانو د خپلو بوډاګانو سلګۍ واؤريدې ماد خپلوخوئيندو په سر تورو سرونو په چغو چغو اوژړل ځکه ... چې ... دغه هر ښائست سره ددغې هرې حيا سره زما يادونه تړلي وو ـ ځکه چې ما هم په دغه خاوره خاپوړې کړې وې ـ زۀ ولې بې کوره کړے شوم ؟ چا بې کوره کړم ؟ زما ګناه څۀ وه ؟ ددې سوالونو جوابونه هر څوک لرې خو په خوله نشي وئيلے ما د اشنغر ، صوابۍ او نوښار په دشتو کښې هاغه خيمې هم اوليدې چرته به چې زما د خاورې عزتمند بې عزته کيدل ـ چرته

چې به زما د ابشارونو په غيږه کښې رالوئې شوې خوئيندې د اوبو څو قطرو ته په قطار کښې ولاړې وې ـ ما د خپلو وطن والو تنها کې تنها کې پښې هم اوليدې ـ دغه هره لمحه ، هر درد زما په سينه کښې اوس هم څړيکې کوي ـ خو زۀ مجبوره يم ـ زۀ غږ کولے نۀ شم ـ ځکه چې زۀ هم ددغه ,,مجبوره،، معاشرې فرد يم ـ خو چې کله مې زړۀ راډک شي نو د خپل قلم سره دغه دردونه شريک کړم ـ

ما لا په خپله بې کورۍ وير کولو چې د سېلاب خونړو چپو ټوله پښتونخوا په مخه واخسته ـ هاغه د ښاپيرو وطن يو ځل بيا داسې له نظره شو چې ټول ښائستونه ئې تالاوالا شول ـ

قام پرستو يو ځل بيا زما د راټولـه ولـو ډېرې دعـوې اوکړې خو ... زما لمن ، زما جولۍ لا تر اوسه هم هاغسې تشه پاتې ده ـ زۀ چې کله هم د کچه خلقو پخې پخې خبرې اورم ـ د نو د زړۀ د تل نه مې اسويلي خولې ته راځي ـ ځکه چې د دومره وخت تيريدو باوجود زما د ,, ښاپيرو وطن ،، هم هاغسې ژوبل ژوبل پروت دے ـ د نړي والو نه د ,, بيا ودانۍ ،، په نامه سوداګر خپلې جولۍ ډکوي ـ خو د خپلې خاورې او خپل قام احساس ئې مړ شوے دے ځکه چې د دوي په سترګو د ,,غرض،، پردې خورې دي ـ

لېونىٍ ! د خپلې خاورې دا غوځ غوځ پرهرونه به لکه زما تۀ هم وينې ـ ماته پته ده چې تۀ کله د خپلې کوټې سر ته را اوخيژې نو د هاغه چنارونو په ښاخونو کښې به د خپلو لاسو د ټالونو نخښې لټه وې ـ خو تاته پته نشته چې د حالاتو لمبو او د سيلاب چپو دغه ټولې نخښې ورانې کړې دي ـ اوس په دغه چاپېرچل خاموشي خوره ده داسې خاموشي چې د وحشت ترې هم ويره کيږي ـ

زۀ چې هم کله يوازې شم نو په سترګو کښې مې تودې تودې اوښکې جرګه جرګه شي ـ زۀ د پرون په ښائستونو کښې ستا عکسونه لټوم ـ زۀ د خپل زړۀ په وينو ستا د ځوانىٍ تصوير جوړوم ـ په دې خيال په دې باور چې د خپل تنهايىٍ ارمان پرې دلاسه کړم ـ خو دغه تصوير لا اوس هم نيمګړے دے زما احساس ، زما شعور ماته بيا بيا دا آوازونه کوي چې ستا د لېونىٍ تصوير به هله مکمل کيږي چې کله ستا د ساندې ساندې او ژوبل ژوبل خاورې ورشوګانې بيا ګلونه اوسپړي ـ ژوند بيا د ښائستونو په ټالونو جوټې اوخوري ـ ګودرونه بيا آباد شي ـ په تنورونو د پېغلو خندا بيا ټپه ټپه شي ـ ماته بيا زما د وجود احساس اوشي ـ او زما په شونډو ستا نامه چورلکونه اوخوري ـ که هر څو د ,, وخت خدايان ،، د جذبو په قتلان

خوشحاله دي ـ که هر څو دوي د مجبوره خلقو په وينو محلونه ابادول غواړي ـ خو زما دا باور دې چې زمونږ د مينې جذبې به يو ځل بيا د ژوند د ناوې په اوربل کښې ګلونه اږدي ـ

زۀ د خپل ارمان د تصوير د تکميل دپاره لفظونه پيرم ـ په دغه خيال چې زما مينه وال به زما ددغه فطري ناقرارۍ خيال ساتي او زما په لفظونو کښې به زما د شعور هاغه ژوبل ژوبل عکس ويني کوم چې د خپل تکميل دپاره لا اوس هم د رنګونو په لټون دے ـ

ستاسو د ټولو
لايق زاده لايق
ډائريکټر ريډيو پاکستان پښور

# ناز

چـــې پـــوره شـــي هســـې مينـــه د يـــار نـــۀ ده
د تســـــبو د اړولـــــو پـــــه شـــــمار نـــــۀ ده
کـــه مــې نــاز کــه لېوتتــوب د ے واړه ســتا دي
بـــې لتـــا مـــې بلـــه مينـــه پکـــار نـــۀ ده
جل جلاله

# جلال

چې ثـانـي نـۀ ئـې همسـر نـۀ ئـې مثـال شـته
پـه جمـال کښـې ئـې چـې حُسـن د جـلال د ے
چـــې محـــور د بنـــدګۍ او عـــاجزۍ د ے
هغـه نُـور د ے چـې تکبيـر د ے هـم بـلال د ے
صلو عليه وآله

# ادراک

د دنيا په رنګينو مې څۀ کار نشته
ما موندلې بادشاهي په عاجزۍ کښې
عقل و فکر ئې ادراک کولے نۀ شي
هسې راز دے په جنون او بې خودۍ کښې

# اعجاز

چې مې ستا په ليدو زړۀ شو ناقراره
هله پوهه شوم په ناز د محبت
لېونتوب چې بې خودۍ سره اشنا کړي
دغه راز دے هم اعجاز د محبت

# کربنې

د ښائست نظر مې ځومره په چل ښکل کړے
د ګـلاب پـه مـخ راغلـې ورانـې کربنــې
تبســم دې خــورې کــړې پــه رخســار دې
و يــو بــل تــه وارخطــا حېرانــې کربنــې

○

ګـــذار ښـــۀ ئـــې لـــه کمـــره
ګـــذار مـــۀ شـــې لـــه نظـــره

کـــاڼي زړونـــه ويلـــې کيـــږي
پـــه يـــوه خـــوږه خبـــره

پـه ځـوانۍ کښـې امـان غـواړه
د ښائســـت لـــه هـــره شـــره

مينـــه کلـــه پټيـــد ے شـــي
چـــې ټپـــه شـــي هـــم ســـندره

د حـــالاتو پـــروا نکـــړي
څـوک چـې اودانګـي لـه سـره

د يـــورپ رنګونـــه زار شـــه
ســـتا لـــه دوړو پښـــوره

پښـــتونخوا کښـــې لا مـــاتم دے
دلتـــه مـــۀ راځـــه اختـــره

تـــل بـــه خـــوار ګرځـــو لايقـــه
هـــم تـــر څـــو يُـــو بـــې رهبـــره

# ذات

تـــر هغـــې رســـيد ے نـــۀ شـــې تـــر جانانـــه
چـــې تـــر کـــومې تـــۀ پـــه خپلـــه جانـــان نشـــې
د خپـــل ذات مونـــدل اســـان نـــۀ دي لايقـــه
څـــو چـــې پوهـــه پـــه يقـــين او ګمـــان نشـــې

○

زړۀ به صبر کړم لتانه
دا کېدے نشي جانانه

د خوبونو دنياګۍ مې
ده په تا باندې ودانه

دا زما لېونۍ مينه
کمه نۀ ده د هيچا نه

نيمه شپه کښې چې رايا د شې
کړمه چغې له خفګانه

دغه سوچ چرې اونکړې
تا به هېر کړم په اسانه

که په دار خېژم لائقه
ګيله نۀ کړم د دنيا نه

○

زړۀ مې نۀ صبريږي وايه څۀ اوکړم
تا پسې کړيږي وايه څۀ اوکړم

دا د سره تيره لېونی مينه
ورځ په ورځ زياتيږي وايه څۀ اوکړم

نوم چې دې اشنا د چانه واؤرمه
شونډې مې اوچيږي وايه څۀ اوکړم

اوس زما د نوم سره چې کلې کښې
ستا نامه ياديږي وايه څۀ اوکړم

بې له تا لايقه لېونے عمر
ګران دے نۀ تيريږي وايه څۀ اوکړم

○

ستا دوه سترګو مېکدو ته مې سلام د ے
دې نشه نشه کتو ته مې سلام د ے

چې لمبو کښې هم د ژوند سندرې وائي
دې خړ سرو پښتنو ته مې سلام د ے

چې رباب د محبت پکښې ټنګيږي
دې زړو زړو حجرو ته مې سلام د ے

چې زما د لېونتوب لارو ته ګوري
ستا د حسن شوګيرو ته مې سلام د ے

چې ول ول کښې ئې د قام مينه ځليږي
دې پټکو دغه شملو ته مې سلام د ے

غېرتونه په غورزنګ چې کړي لايقه
د ښائست هاغه جذبو ته مې سلام د ے

○

اوښکو په مخ مې جوړولې لارې
تۀ چې راتلې ما دې څارلې لارې

اووایه څومره وے سلګو نیولے
تا چې زما نه بیله ولې لارې

چې د راتلو خبر دې راغے کله
ما تر صبا جاروکولې لارې

چې ئې زما څیرې ګریوان ته کتل
ټولو یارانو بدلولې لارې

لایقه هر چا راته ګوتې نیوې
چې په ښو مې ښکلولې لارې

○

چا چې هم د کرکې او نفرت خبره کړې ده
مونږ ورته همېش د محبت خبره کړې ده

روح د منصور ځکه په لحد کښې ناقراره دے
بيا چا ليوني د بغاوت خبره کړې ده

پېغله پښتنه ده که په خوله وئيلے هېڅ نشي
ماته ئې په سترګو کښې د پت خبره کړې ده

مونږه پښتانه واړه په دې جرم بدنام يُو چې
تل مو ښځه په نره د غېرت خبره کړې ده

هر څو که لايقه ډېر حالاتو زورولي يُو
بيا مو هم د امن او الفت خبره کړې ده

○

زۀ به د بل چا شم داسې مۀ وايه
ستا نه به جدا شم داسې مۀ وايه

کښېنه لاخبرې د پرې پاتې دي
بله ورځ به راشم داسې مۀ وايه

ستا نه خبر نۀ يم چې به څۀ کوې
زۀ به بې وفا شم داسې مۀ وايه

پټ چې دې اشنا کړمه په سترګو کښې
هير به اوس له تا شم داسې مۀ وايه

اوس په شا کيدے نشم پښتون يمه
خير دے که رسوا شم داسې مۀ وايه

نن ئې په خندا لايقه بيا اووے
زۀ به بې وفا شم داسې مۀ وايه

○

چې جانانه بې له تا شي
اور دې پورې په دنيا شي

چې مې زړۀ په درزيدو شي
وايم داد ے اوس به راشي

چې دې نوم له چا نه واؤرم
ګمانونه مې سېوا شي

لاپخلا راسره نۀ وي
مروره رانه بيا شي

ستا ارمان هم عجيبه دے
کله خيال کله سودا شي

پښـــتونخوا بـــه شـــي رنګينـــه
کـــه ملالـــه څـــوک پېـــدا شـــي

مينـــــه امـــــر شـــــي لايقـــــه
چـــې مئـــين پکښـــې رســـوا شـــي

## ماښام

بيا چې د غرونو په سر
کله تيارۀ خوره شوه
ساه مې شوه ډوبه ډوبه
ذهن مې کار نۀ کوؤ
بس ستا نامه به راتله
زما په اوچو شونډو
زړۀ راته دا وئيل چې
لېونۍ ستا په مينه
سکنې ماښام ته ګوري

○

پوهـــه يمـــه پـــه ځـــان لېـــونے شـــوے يـــم
تـــا پســـې قربـــان لېـــونے شـــوے يـــم

کلـــه ګـــوتې شـــمارم کلـــه خاندمـــه
دا ځـــل پـــه ايمـــان لېـــونے شـــوے يـــم

دا چـــې د لمبـــه لمبـــه وختونـــو نـــه
غوارمـــه جانـــان لېـــونے شـــوے يـــم

زۀ د ځـــان ځـــانې پـــه دغـــه دور کښـــې
ګورمـــه يـــاران لېـــونے شـــوے يـــم

خـــوب چـــې تـــر صـــبا لايقـــه نـــۀ راځـــي
دام د ے ګومـــان لېـــونے شـــوے يـــم

○

مخ چې له مانه اړوې نو وايه خيال دې څۀ دے
سترګې چې داسې بدلوې نو وايه خيال دې څۀ دے

چې په تول کلي کښې دې ياد کړمه رسوا دې کړمه
اوس چې لوظونه ماتوې نو وايه خيال دې څۀ دے

هغه سړے چې ما سړے هم و ګڼلے نۀ دے
تۀ چې ئې ماته يادوئې نو وايه خيال دې څۀ دے

بل ته چې اوګورې مسکۍ شې زۀ دې ښۀ وينمه
شونډې چې ماته بوڅوې نو وايه خيال دې څۀ دے

په دې لمبه لمبه حالاتو کښې زما زړګيه
تۀ چې جانان جانان کوې نو وايه خيال دې څۀ دے

زۀ خــو مجبــوره يــم چــې ســم درتــه کــتلے نــۀ شــم
دا تــۀ چــې اوښــکې تويـوې نـو وايـه خيـال دې څـۀ دے

د چـــا پـــه يـــاد کښـــې تـــر ســـحره هـــره شـــپه لايقـــه
داسې چې ستورې شماروې نـو وايـه خيـال دې څـۀ دے

## دعوې

ســرې لمبــې دې پــه هــر لــورې هــائې ســوران دے
پښـــــــتانۀ د وحشـــــــتونو پـــــــه اور ســـــــوزي
دعـــــوې ډېـــــرې خـــــو رهبـــــر نشـــــته لايقـــــه
قـــــام مـــــې ځکـــــه د اورونـــــو پـــــه اور ســـــوزي

○

تاتــــه چـــې ګــــورم زړۀ درزيـــــږي زمــــا
لاګومانونـــــــه ســـــېوا کيــــــږي زمـــــا

شــــونډې مــــې اوچــــې شـــي ســــلګۍ وهمـــه
چـــــې تېــــــر وختونــــــه رايـــــاديږي زمـــــا

کـــــه ورتـــــه بيــــا بيــــا قســــمونه ورکــــړم
لېــــــونے زړۀ کلــــــه پـــــوهيږي زمـــــا

چـــې شـــې رايــــاده کلـــه تـــوره شـــپه کښــې
زړګــــے نــــرے نـــرے خــــوږيږي زمـــــا

ثلــــه تپـــوس کـــوې خـــو دومـــره بــــس ده
بـــــې لتــــا ژونــــد کلــــه تيريـــــږي زمــــا

کــــه قســــمونه خــــورم خــــو بيــــا لائيقــــه
يـــــوه لحظـــــه هـــــم نــــۀ هيريـــــږي زمــــا

○

ستـــــترګې لرمــــــه خـــــو نظـــــر نـــــۀ لــــرم
بـــــې ســـــره ځکـــــه یـــم چـــې ســـر نـــۀ لـــرم

د خپــــل منـــــزل د خپــــل مـــرام پـــه طـــرف
الوتــــــل غــــــوارم خــــــو وزر نــــــۀ لـــــــرم

چــې پــه خپــل کورکښــې هــم بــې کــوره یمــه
ځکـــــه خبــــرو کښــــــې اثــــر نـــــۀ لـــــرم

در پــــــه در ګرځمـــــه ګریـــــوان شـــــلیدلے
کـــــاروان لرمــــــه خـــــو رهبــــر نـــــۀ لــــرم

اوس بــــه د ځــــان فیصــــله څنګــــه کــــوؤم
حجـــره مـــې ورانـــه کـــړه ګـــودر نـــۀ لـــرم

چــــــې لېونتـــــوب د محبــــــت لرمـــــه
لایقــــــه ویـــــره د محشـــــــر نـــــــۀ لـــــــرم

○

ګرانـــه بـــې لـــه تـــا زنـــدګي ګرانـــه ده
راشـــه پـــه ربښـــتيا زنـــدګي ګرانـــه ده

ســـتا تصـــوير تـــه ګـــورم پـــه ســـلګو ســـلګو
ژاړم تـــــر صـــــبا زنـــــدګي ګرانـــــه ده

زۀ چـــې شـــومه ســـتا او تـــۀ زمـــا شـــولې
اوس خـــو خامخـــا زنـــدګي ګرانـــه ده

نـۀ چـې زۀ درتلـے شـم نـۀ راتلـې شـې تـۀ
پوهـــــه يمـــــه دا زنـــــدګي ګرانـــــه ده

ســـتا د لاســـو نخښـــې مـــې پـــه لاس کښـــې دي
ګـــرځم وارخطـــا زنـــدګي ګرانـــه ده

نـــن راتـــه لايقـــه ليونتـــوب اووے
داســـې بـــې اشـــنا زنـــدګي ګرانـــه

○

چــې پــه تــا پســې ملنــګ د ے يــو ســړ ے
د خپــل ځــان ســره پــه جنــګ د ے يــو ســړ ے

لـــه ازلـــه ســـتا د مينـــې جـــوارګر د ے
بـــې پـــروا د بـــل قلنـــګ د ے يـــو ســـړ ے

د ښائســـت پـــه هـــر يـــو راز بانـــدې پـــوهيږي
ولاړ ځکـــه ســـتا پـــه ننـــګ د ے يـــو ســـړ ے

پـــه لمبـــو کښـــې چـــې د حســـن ځـــلا ګـــوري
تيـــر د ســـره ســـتا پتنـــګ د ے يـــو ســـړ ے

چـــې يقـــين او اعتمـــاد ورتـــه حيـــران دي
د ګمـــان د حـــد نـــه دنـــګ د ے يـــو ســـړ ے

ســـتا لايـــق د ے ســـتا د مينـــې لېـــونے د ے
راشـــه تـــول لونـــګ د ے يـــو ســـړ ے

○

ستا چې سترګې د شرابو پيمانې شوې
رانه هيرې د وختونو مېخانې شوې

بې خودي مې په احساس خوره وره شوه
چې وعدې دې په چل چل کښې بهانې شوې

ياران لاړۀ ټول حالاتو تار په تار کړۀ
شاړې پاتې د يادونو استانې شوې

د جذبو په صداقت کوي شکونه
څۀ بې قدره تقاضې د يارانې شوې

د مغرور اشنا نشه نشه خبرې
چې سازونو کښې ول ول شوې ترانې شوې

په حجرو کښې د رباب په خوله خبرې
دا قيصې لايقه لاړې افسانې شوې

○

چې وعدې دې رښتيا نۀ شوې
وئے زما خو زما نۀ شوې

اشنا سترګې دې جانانه
اشنا وئے خو اشنا نۀ شوې

تۀ ول ژوندون مې درنه زار کړو
پخلا وئے خو پخلا نۀ شوے

د ارمان د تصور نه
جدا وئے خو جدا نۀ شوې

شپې د هجر مې لايقه
صبا شوې خو صبا نۀ شوې

○

تــا چــې وعــدې اوکــړې د وعــدو نــه پــس
لادې پــه ســلګو کــړم د ســلګو نــه پــس

تاتــــه څــــۀ معلومــــه ده زمــــا مينـــې
څــۀ پــه مــا تيريــږي ســتا د تلــو نــه پــس

ولــــې دې زمــــا تصــــوير تــــه اوکتــــل
نــن د بــې اختيــاره ژړيــدو نــه پــس

بيــا مــې ســتا خطونــه ټــول راواخســتل
ځــان ســره بيــا بيــا د ګونړيــدو نــه پــس

لاخــو مــې کتلــې درتــه ســم نــۀ دي
ښنګــه شــوې روانــه د راتلــو نــه پــس

خــدائے خبــر لايقــه نــور بــه څــۀ کيــږي
شــومه چــې ليــونے د زړيــدو نــه پــس

○

دغــــه ســـتا پـــه مـــخ خنـــدا ده
کـــــــه زمــــــا د زړۀ درزا ده

ځکـــه غـــږ کـــولے نـــۀ شـــم
ســــتا حيـــا زمـــا حيـــا ده

دا چـــې تـــا لـــه مانـــه غـــواړي
څـــۀ ســـاده مينـــه زمـــا ده

لېونتـــوب زمـــونږ د مينـــې
څـــومره ښـــکلې انتهـــا ده

ښـــۀ پـــه نـــره راتـــه راګـــوره
پـــه مـــونږ پوهـــه اوس دنيـــا ده

چې ستا نوم مې اوريدلے
وار خطا مې هره ساه ده

چې مې زړۀ درله درکړے
بس هم دغه مې ګناه ده

خود به ژاړمه په چغو
چې مې کړې ستا رضا ده

خلاصه د زما د عمر
ستا د وصل تمنا ده

زړۀ دې ټينګ ساته لايقه
لا د مينې ابتدا ده

○

دا رباب وائي سندرې
که شباب وائي سندرې

بې اختياره خندا راشي
چې حباب* وائي سندرې

نن ئې بيا په موسيدو کښې
اضطرابً وائي سندرې

دار د زلفو ورته خاندي
چې ګلاب وائي سندرې

ما جنون طرف ته بيائي
يو سراب وائي سندرې

په کتاب رخسار لايقه
پيچ و تاب وائي سندرې

---

* بړبوکۍ

○

ستا په طمع د زړهٔ سره
ستورې شمارم تر سحره

ماته ياده ده تر اوسه
ستا يوه يوه خبره

ما پالله ده ستا مينه
ښهٔ په نره ښهٔ په نره

ټول خوبونه مې لوګے شه
ستا د مينې له نظره

ستا خوارهٔ خوارهٔ يادونه
شي غزل کله سندره

د لائق زړګے دې يوړو
په چل چل کښې ستمګره

○

تـــهٔ لـــه مـــا هيريــــدے نشـــې
پـــــه والله هيريـــــــدے نشــــــې

کـــه هـــر څـــو تـــوبې اوباســـم
ولـــــې بيـــا هيريـــــدے نشـــــې

زړهٔ لـــه ډېـــر قســـــمه ورکــــړم
خـــو اشـــنا هيريـــــدے نشـــــې

محبــــــــــــــت دې زورور دے
زار لـــــه تـــا هيريـــــدے نشـــــې

چـــې هـــر وخـــت دې يـــاده وومـــه
ښـــکاري دا هيريـــــدے نشـــــې

پـــــه ربنـــــتيا وايـــــم لايقـــــه
پـــــه ربنـــــتيا هيريـــــدے نشـــــې

○

مـا نـه جُـدا د ے خـو جـدا نـهٔ د ے
خوا کښې زما د ے خو زما نهٔ د ے

دا فاصلې څهٔ عجيبه غونډې دي
زمـا اشـنا د ے خـو اشـنا نـهٔ د ے

د بې خودۍ د لېوني نظر نه
کـه ډېـر پنـاه د ے خـو پنـاهٔ نـهٔ د ے

چې په محفل کښې رانه مخ اړوي
ښکاري پخلا د ے خو پخلا نهٔ د ے

زمـا پـه هـره يـو سـاه کښې اوسي
د ے زمـا سـاه خـو زمـا سـاه نـهٔ د ے

چې هر احساس مې لړزوي لائقه
د ے د بل چا خو د بل چا نهٔ د ے

○

درد چې مې د زړۀ په زیاتیدو شي تۀ رایاده شې
اوښکې مې ارمان ته په ګیلو شي تۀ رایاده شې

خدائے خبر څۀ چل د ے نۀ پوهیږم لېونۍ مینې
نمر چې مازیګر په ډوبیدو شي تۀ رایاده شې

کله چې خفه خفه یوازې چرته کینمه
روح مې له بدنه په وتو شي تۀ رایاده شې

ستا نوم چې د چا نه په محفل کښې کله واؤرمه
رنګ مې لیونۍ په بدلیدو شي تۀ رایاده شې

زۀ لایق چې کله هم کاغذ قلم راواخلمه
خیال مې غلے غلے په سلګو شي تۀ رایاده شې

○

چې مې بائيللے دے په تا زړګے
ځکه زما نه دے زما زړګے

چاته ګيله چاته فرياد اوکړمه
تا رانه وړے دے په غلا زړګے

تاته چې اوګورمه پوهه نشم
ولې زما شي وارخطا زړګے

څۀ چل خو دے ملګرو هسې نۀ ده
نن مې بيا بيا کوي درزا زړګے

څنګ چې درکړے درله ما په مينه
داسې په مينه مينه را زړګے

چې نه صبريږي په يو حال لائقه
آخر به مينه کړي رسوا زړګے

○

چـــې تصـــور مـــې کلـــه کلـــه د جانـــان کـــړے د ے
زړۀ مـــې پېغـــور راتـــه د اوښـــکو د بـــاران کـــړے د ے

بيـــا هـــم د مينـــې جـــوارګر يمـــه پـــروا نـــۀ لـــرم
کـــه مـــې ټـــول عمـــر پـــه تـــاوان پســـې تـــاوان کـــړے د ے

زۀ خـــو د مينـــې بنجـــارے يـــم نفـــرت نـــۀ پيـــژنم
مـــا پـــه لمبـــو کښـــې هـــم پـــه نـــره يـــا قربـــان کـــړے د ے

د لېونتـــوب نشـــه مـــې کلـــه کمـــه شـــوې نـــۀ ده
ځکـــه مـــې فخـــر پـــه ريښـــې ريښـــې ګريـــوان کـــړے د ے

يـــو ځلـــې راشـــه چـــې د خپـــل لېـــونې حـــال اوګـــورې
پـــه تورو شپـــو کښـــې ئـــې د اوښـــکو چراغـــان کـــړے د ے

د ځـــان د حـــد نـــه پســـې وتـــے يـــم پخـــوا لائيقـــه
ځکـــه مـــې فکـــر د جهـــان نـــه د دوران کـــړے د ے

○

ځلــــه رنګونــــه د جهـــــان ګـــــورې
ماتــه لــږ اوګــوره کــه ځــان ګــورې

د لېونتـــوب ســره خبــرې زده کــړه
تنهــۍ مـــې ځلــه د ګريـــوان ګـــورې

شـــې حيرانـــې درتـــه حيرانـــې پـــاتې
چـــې حيرانـــې مـــې حيـــران ګـــورې

زمـــا د زړۀ کعبـــې تـــه غلـــې راشـــه
کـه پـه مکـان کښـې لامکـان ګـورې

ښـکارې سـيوا دې شـو جنـون لايقـه
چې پـه دشـتونو کښـې يـاران ګـورې

○

دے پــــه مـــا ګـــران جانـــــان
لکـــــــه ارمـــــان جانـــــــان

چـــې صـــبريد ے تـــرې نشـــم
دے زمـــــا جـــــان جانـــــــان

تـــل مـــې پـــه خيـــال وريـــږي
لکـــــــه بـــــاران جانـــــــان

دا چـــې مـــې ســـترګه رپـــي
دے را روان جانـــــــــــــــــــــان

څنـــګ بـــه هيريـــږي لـــه مـــا
هغـــــــه نـــــادان جانـــــــان

دے يکـــــــه زار لايقـــــــــه
هـــــم ياقربـــــان جانـــــــان

○

تــــهٔ نيمګــــړې بــــې لــــه مانــــه
زهٔ نيمګـــــړے بــــې لــــه تانــــه

څــــه چــــې لاس د مينــــې ورکــــړو
مــــهٔ يريــــږه د دنيــــا نــــه

د ژړګــــې ورانــــه دنيــــا مــــې
ده پــــه تــــا بانــــدې ودانــــه

تــــول رنګونــــه درنــــه زار شــــه
د ښائســــت د کلــــې خانــــه

ما د زړۀ په سر لیکلې
ستا نامه ده د پخوا نه

څۀ کانې دې په ما اوکړې
هیڅ خبر نۀ یم له ځانه

هسې چې نۀ زړۀ مې اوچوي
د زړۀ سره له خفګانه

تۀ به کله پوره کیږې
یه زما د ژوند ارمانه

ګرانې ستا د هیرولو
فیصله ده بلا ګرانه

لیونتوب ته مو لایقه
دنیا ټوله ده حیرانه

○

چې تـهٔ مـې نشـوې پـه جهـان بانـدې دې اور اولګـي
څـهٔ بـه ارمـان وي پـه ارمـان بانـدې دې اور اولګـي

چې سـتا پـه کـاڼي کـاڼي زړهٔ کښـې ئـې لاړ اونکړلـه
زمـا د اوښـکو پـه بـاران بانـدې دې اور اولګـي

زمـا اشـنا چـې سـتا د حسـن ذکـر نـهٔ وي پکښـې
پـه ,,يکـه زار،، او ,,يـا قربـان،، بانـدې دې اور اولګـي

چـې يـو زمـا د پـاکې مينـې ګـلاب اونـهٔ لـري
هاغـه چمـن هاغـه بوسـتان بانـدې دې اور اولګـي

چـې وي زمـا پـه سـپورو شـونډو اسـويلي لايقـه
بيـاض دې ورک شـي پـه بيـان بانـدې دې اور اولګـي

○

ښــــۀ خبـــر د ے نـــا خبـــر د ے
چـــې زمـــا د زړګـــي ســـر د ے

مـــا ســـاتلے پـــه ليمـــو کښـــې
هميشـــــه لکـــــه نظـــــر د ے

لاتـــــر ننـــــه پخـــــلا نشـــــو
مـــودې اوشـــوې مـــرور د ے

چـــا ئـــې حـــد ليـــدلے نـــۀ د ے
د نـــــــازونو ســـــــمندر د ے

هـــم ســـتم کـــوي هـــم مينـــه
ګـــــوره څـــــومره زورور د ے

د احساس تاله کنډر مې
ستا په فکر منور دے

دا ضدي حسن لايقه
معتبر وو معتبر دے

## سپوږمۍ

چې سپوږمۍ ته کله ګورم نيمه شپه کښې
نو مئين زړۀ راته غلے غلے وائي
لېونئ به وي د بام په سر ولاړه
د سپوږمۍ نه به زما کوي پوښتنې
لکه څنګه چې داسې زۀ يم ناقراره
داسې هم به چا له نۀ ورځي خوبونه
په دې خيال او ناقراره تصور کښې
د بيلتون شپه په سلګو سلګو صبا شي

○

چې دې دواړه سترګې سرې دي
په زړګي مې زلزلې دي

د ژوندون په هره لاره
تهمتونه راپسې دي

ما دا ستا په انتظار کښې
صبا کړې بلا شپې دي

چې تاويږي مې د زړۀ نه
ستا يادونه سرې لمبې دي

ستا خوږې خوږې خبرې
دي سندرې هم نغمې دي

په نصيب کښې مو لايقه
له مودو نه شوګيرې دي

○

چې د حسن قدردان يم
لا بوډا نۀ يمه ځوان يم

ځکه کوږ د خياله ګرځم
د ښائست د کلي خان يم

ستا خاپونو پسې ګرځم
په زړو لارو روان يم

چې ما ياد کړې وار خطا شې
ګوره څومره په تا ګران يم

چې مې زړۀ د رکړے تاله
اوس په تا باندې تاوان يم

لا تر ننه نۀ صبريږي
ليوني زړۀ ته حيران يم

چې مئين شومه لايقه
بې پروا د ټول جهان يم

## برکت

دغه واړه د يو حُسن برکت دے
چې خوره په هر نظر مې حيراني ده
اوس به څنګه ترې صبريږمه لايقه
ما بائيللې په دې لاره کښې ځواني ده

○

کلــــه کلـــه چــې خفــــه شـــي
نـــو لانـــوره هـــم ښائســـته شـــي

د همزولـــــو ســـــره خانـــــدي
چـــې مـــا اووينـــي غصـــه شـــي

چـــې ئـــې غـــږ د راتلـــو واؤرم
پـــه زړګـــي مـــې زلزلـــه شـــي

خکتـــه ګـــوري پټـــه خانـــدي
ترينـــه هيـــره چـــې وعـــده شـــي

عجيبـــــه لـــــري خويونـــــه
کلـــه څـــۀ او کلـــه څـــۀ شـــي

چـــې ئـــې نـــوم لـــيکم لايقـــه
يـــا غـــزل شـــي يـــا ټپـــه شـــي

○

رنـــګ مـــې تاپســـې زيړيـــږي
خـــو دنيـــا کلـــه پـــوهيږي

يـــــادوم بـــــه دې جانانـــــه
چـــې مـــې سترګې څـــو غړيـــږي

هـــره شـــپه مـــې د زړۀ ســـره
ســـتا غمونـــو کښـــې تيريـــږي

چـــې تـــا نـــۀ ويـــنم قســـم د ے
بـــې صـــبري مـــې ســـيوا کيـــږي

مـــونږ دواړه يُـــو مجبـــوره
ځکـــه اوښـــکې مـــو بهيـــږي

بـــس پـــه تـــا بانـــدې لايقـــه
مئـــين زړۀ مـــې ټکـــوريږي

○

ځــــومره ده خـــوږه جينـــــۍ
دا وړه وړه جينـــــــــــــۍ

خدايـــه چـــرې هـــم نکـــړې
تـــۀ لـــه مـــا خفـــه جينـــۍ

رنـــــګ د فرښـــــتو لــــري
ښــــکلې پښــــتنه جينــــۍ

ځـــۀ نــــوم ورلــــه درکمــــه
ده زمـــا هـــر ځـــۀ جينــــۍ

ښـــکارې د ســـپوږمۍ پـــه شـــان
تــــــل اوده اوده جينـــــــۍ

ګوره په زړګي ورمه
ستا هره غصه جينۍ

کله مينه مينه شي
کله سره لمبه جينۍ

ما لايق ستائيلې ده
ګل جينۍ وږمه جينۍ

# لمبې

شاعري که الهامي کېفيت نۀ وے
د دنيا خلق به واړه شاعران وو
محبت که لېونتوب نۀ وے لايقه
پتنګان به د لمبو نه په امان وو

○

دا فلسفې د سود او زيان پرېږده
عشق کښې خبرې د تاوان پرېږده

ريباره اووايه چې څۀ ئې اووئيل
نورې خبرې د جانان پرېږده

چې د نصيب تنۍ راتولې کړمه
وحشته يو ځل مې ګريوان پرېږده

چې مې د يار د حسن زور اووينې
,, عشقه ،، الوت ته مې ,, وجدان ،، پرېږده

د لايق ذکر پکښې شته او که نا
نورې قيصې د ,, يا قربان ،، پرېږده

○

چې ستا د زړۀ نه مستي وتې نۀ ده
لامې د خيال نه شوخي وتې نۀ ده

زۀ دې ملنګ کړم خو تر اوسه پورې
ستا د مزاج نه ,,خاني،، وتې نۀ ده

کوه ستم چې هډو غم اونۀ کړې
لامې لمبه د زړګي وتې نۀ ده

په مونږ به نورې نورې لوبې کيږي
چې رانه خو ,,ځان ځاني،، وتې نۀ ده

لايقه ذکر چې د يار شته پکښې
له شاعرۍ رنګيني وتې نۀ ده

○

چـــې دې نظـــر کښـــې شـــرارت نشـــته
ځکـــه دې خونـــد د محبـــت نشـــته

ريبـــاره ســـتا پـــه ســـترګو پوهـــه شـــومه
نـــور دې وينـــا تـــه ځـــۀ حاجـــت نشـــته

پـــه ډک محفـــل کښـــې چـــې جانـــان يـــادوې
رقيبـــه تـــا کښـــې شـــرافت نشـــته

ســـتا د ښائســـت غـــرور منمـــه ولـــې
زمـــا پښـــتو کښـــې هـــم ,, منـــت، ، نشـــته

لايقـــه چـــا نـــه بـــه ګيلـــه کوؤمـــه
نشـــته پـــه چـــا کښـــې ,,صـــداقت، ، نشـــته

د دنیا نه مې زړۀ موړ دے
د هر چا نه مې زړۀ موړ دے

چې تیارو پله مې بیا ئي
د رڼا نه مې زړۀ موړ دے

نن ئې بیا په خندا اووے
مړه ستانه مې زړۀ موړ دے

د ژړا له ډیرې ویرې
د خندا نه مې زړه موړ دے

ښـــــــۀ رســــــوا دې کــــــړم زړګيــــــــه
ځکـــــه ســــتا نــــه مـــــې زړۀ مــــوړ دے

چـــــې پــــه چـــا نــــۀ ښــــکاره کيــــږي
د وفــــــا نــــــه مـــــې زړۀ مــــــوړ دے

تـــــــل دروغ وائــــــــــي لايقـــــــــه
د اشــــــنا نـــــه مـــــې زړۀ مــــــوړ دے

# منت

د سـړو پـه صـف کښـې کلـه حسـابيږي
هاغـه څـوک چـې لـه نظـره راګـذار شـي
خپــل عمــل د لارې مــل ګڼــه لايقــه
چې ګفتـار دې د لفظونـو منت بـار شـي

○

لار چـــې زمـــا نـــه تـــۀ اشـــنا بيلـــوې
لکـــه د تـــن نـــه مـــې چـــې ســـاه بيلـــوې

ځـــۀ بـــه وينـــا کښـــې مـــې اثـــر پـــاتې شـــي
چـــې د دعـــا نـــه مـــې ,,دعـــا ،، بيلـــوې

لـــږ خـــو مـــې پوهـــه کـــړه زمـــا ليـــونۍ
زمـــا نـــه ځـــان پـــه ځـــۀ ګنـــاه بيلـــوې

ښـــکارې د شـــعر نـــه مـــې روح اوباســـې
تـــۀ چـــې د حســـن نـــه ادا بيلـــوې

تـــۀ چـــې لايـــق پـــه نيمـــه لار کښـــې پريـــږدې
د تصـــور نـــه څنـــګ ښـــکلا بيلـــوې

○

ښځۀ مې رسوا کړه چې دې خوا یخه شي
ژوند مې تباه کړه چې دې خوا یخه شي

ثله مې اخلې ازارونه اشنا
لار دې جدا کړه چې دې خوا یخه شي

تر ثو به پټه پټۀ مینه کوې
خبر دنیا کړه چې دې خوا یخه شي

خیر دے که زۀ په سرو لمبو کښې سوزم
خپله رضا کړه چې دې خوا یخه شي

نور د لایق امتحان ثله اخلې
غم دې سیوا کړه چې دې خوا یخه شي

○

چې دې زلفې جوړولې ما ليدې
چې له ځانه شرميدلې ما ليدې

چې همزولو درته کله يادولم
پټه پټه خنديدلې ما ليدې

غلې غلې آئينې سره لګيا وې
څه خبرې دې کولې ما ليدې

چې زما د لاسو نخښې دې جانانه
په سلګو کښې ښکلولې ما ليدې

ټوله شپه چې د حالاتو په لمبو کښې
تر سحره سوزيدلې ما ليدې

زۀ لايق په تصور کښې درسره ووم
تا چې اوښکې پټولې ما ليدې

○

زړۀ ليـــــونے بيــــا ليـــــونے شـــــوے دے
مانـــــه غــــوارې تــــا ليــــونے شــــوے دے

پوهــه پــه ځــان نـۀ دے پــه ټـول کلــي کښـې
زۀ ئـــې کــــړم رســــوا ليــــونے شـــوے دے

اوس چــې پــه يــو حــال کښــې صـبر نـۀ کـوي
دا ځـــل پــــه رښـــتيا ليـــونے شـــوے دے

نـــــۀ منـــــي زمــــا خبــــره نــــۀ منــــي
کــــړي خپلــــه رضـــا ليـــونے شـــوے دے

پوهــه يــم چــې نــور ئــې څــۀ مطلــب نــۀ د ے
مــــا غرقـــوي مـــــا ليــــونے شـــوے د ے

دا چــــــې د رواج نــــــه بغــــــاوت غـــــوا ړي
ښـــــکاري خامخـــــا ليــــونے شـــوے د ے

چــــا وئيـــــل لايــــق د کــــــوره وتـــــے د ے
چـــا وئيــــل پخـــوا ليــــونے شـــوے د ے

# مخ

کـــه هـــر څـــو تـــوبې اوباســـم د زړۀ ســـره
تـــۀ زمـــا د تصـــور نـــه وتـــے نـــۀ شـــې
لکـــه زۀ چـــې د چـــا مـــخ تـــه کـــتے نشـــم
داسـې تـــۀ هـــم د چـــا مـــخ تـــه کـــتے نـــۀ شـــې

○

ژوند بغير لتانه دا کيدے نشي
او منه جانانه دا کيدے نشي

دا ليونے زړۀ به شي لتا صبر
دومره په اسانه دا کيدے نشي

زۀ به د بل چا ستر ګو ته ګورمه
نه ياره نادانه دا کيدے نشي

تا به کړمه هير داسې په توقو کښې
واؤره په ما ګرانه دا کيدے نشي

ښکلے به دې حالاتو کښې د زړۀ دنيا
پاتې شي ودانه دا کيدے نشي

تۀ به د لايق سندرې نۀ وائې
ګرانه ده بې شانه دا کيدے نشي

○

چــــې مــــې د زړۀ ســــره اشــــنا نــــۀ شــــوې
زمــــا اشــــنا وې خــــو زمــــا نــــۀ شــــوې

خــــدائے خبــــر ولــــې لا تــــر ننــــه پــــورې
د تصــــور نــــه مــــې جــــدا نــــۀ شــــوې

څــــۀ چــــل خــــو دے چــــې پــــه زيــــړې مــــازيګر
پــــه خولــــه مــــې راغلــــې خــــو دعــــا نــــۀ شــــوې

زۀ د رڼــــا خوبونــــه څنګــــه ويــــنم
چــــې تــــورو شــــپو کښــــې مــــې رڼــــا نــــۀ شــــوې

کالونــــه پــــس چــــې دې اشــــنا اوليــــدو
زړګيــــه ولــــې وارخطــــا نــــۀ شــــوې

تــــۀ د لايــــق د نــــاقراره مينــــې
کــــه انتهــــا وې انتهــــا نــــۀ شــــوې

○

مينـــــه چـــې پـــــه مينـــــه بدګمانـــــه شـــــوه
ورانـــــه شـــــوه د مينـــــې دنيـــــا ورانـــــه شـــــوه

کړلـــــې ئـــــې ګيلـــــې ســـــلګو نيـــــولې وه
زۀ چـــې غريـــو نيـــولے شـــوم حيرانـــه شـــوه

مـــــا پـــــه منتونـــــو پخـــــلا کـــــړې وه
ښنګـــــه مـــــروره پـــــه اســـــانه شـــــوه

ځيـــرې مـــې ګريـــوان کـــړو دنيـــا اوليـــدم
اوس د صـــــبريدو خبـــــره ګرانـــــه شـــــوه

زۀ چـــې ئـــې لايقـــه ليـــونے کړمـــــه
هلـــه پـــه جفـــا بانـــدې ســـتومانه شـــوه

○

مـــا چـــې کلـــه ســـتا ســـترګې لیـــدلي دي
خـــدائیګو کـــه بـــل چاتـــه مـــې کتلـــي دي

تهولـــــه تهولــــه شــــپه مـــــې یـــــادولې تـــــهٔ
ګـــــوره ســـــترغلي مـــــې پړســـــیدلي دي

داســـــې ولـــــې مانـــــه خفـــــه کیـــــږې تـــــهٔ
مـــــا خـــــو همیشـــــه دا ســـــتا منلـــــي دي

نـــهٔ ګـــورې چـــې ماتـــه اشـــنا نـــهٔ ګـــورې
اووایـــــه چـــــا ځـــــهٔ درتـــــه وئیلـــــي دي

تـــــهٔ بـــــه مـــــې لایقـــــه یـــــادوې مـــــنم
مـــــا درپســـــې هـــــم بـــــلا ژړلـــــي دي

○

چې کله خيال ته مې جانان راځي
په خپل نصيب باندې خفګان راځي

هغه زما وه خو زما نشوله
اوښکې مې څکه په ګريوان راځي

يوازې ووم يوازې پاتې شومه
په دې ګيله راځي خفګان راځي

زۀ ورته ژاړمه په چغو چغو
چې مې پوښتنې له ياران راځي

زما په سوچ کښې دا راغلې نۀ وه
چې به خزان پسې خزان راځي

څۀ چل خو دے لايقه هسې نۀ ده
بيا ډلې ډلې رقيبان راځي

○

ما چې يادوي رقيبان څۀ وائي
اوس هاغه د کلي ياران څۀ وائي

لږ د ليونتوب نه مې تپوس اوکه
تا ته مې شليدلي ګريوان څۀ وائي

دا د راز و نياز پټې خبرې دي
ځوانې چې جذبې شي ارمان څۀ وائي

لږ شه خپه نيولي شاته اوګوره
غم ته مې د اوښکو باران څۀ وائي

ما لايق خو تول حالونه اووئيل
اوس به ليوني شاعران څۀ وائي

○

چې ستا په ياد کښې مې شمارل ستوري
راپورې بيا بيا خنديدل ستوري

چې به سپوږمۍ سره جرګه شو
په ,,ليونتوب،، مې پوهيدل ستوري

ستا په لتهون کښې تر سحره پورې
هر يو نظر مې ښکلول ستوري

ستا د ښائست تنده پرې ماته نشوه
ډير مې اشنا اولتهول ستوري

چې مې لمبې د زړۀ د تل نه ختې
په کائنات کښې سوزيدل ستوري

زما د خيال په تاتره وريدل
لايقه تهول غزل ستوري

○

پــه څــۀ خفــه ئــې وايــه مــا کومــه ګنــاه کــړې ده
مــا خــو جانانــه همېشــه دا ســتا رضــا کــړې ده

تاکــه خيــرې راتــه مــدام پــه زيــارتونو کــړي
مـا پـه سـجدو کښـې هـره شـپه درتـه دعـا کـړې ده

ستاسـو د کلـي نـه چـې کلـه دې څـوک هـم راغلـي
ما په سلګو کښې ترې ورومبے پوښتنه ستا کړې ده

ســتا د راتلــو خبــر چــې کلــه هــم ريبــار راؤړے
پــه چپــه خولــه مــې ليــوني زړګــي درزا کــړې ده

د خــولې مــې اُف وتلــے نــۀ دے دا منــې او کــه نــا
تــا کــه پــه مــا بانــدې د ظلــم انتهــا کــړې ده

ســتا ليــونے لايــق هغــه دے بــدل شــوے نــۀ دے
د هــر غــزل ئــې ســتا د نــوم نــه ابتــداء کــړې ده

○

بې له تا خورم تیند کونه
په بیا بیا خورم تیند کونه

یم روان ګریوان شلیدلے
هره خوا خورم تیند کونه

چې په کومه لاره ځمه
خامخا خورم تیند کونه

چې مې کله رایادیږي
په والله خورم تیند کونه

ستا تصویر مې د ے په لاس کښې
په ژړا خورم تیند کونه

په رښا ورځې لایقه
شوم رسوا خورم تیند کونه

○

ما پـه دې خبـره پوهـه کـه جانانـه
ليـونے زړهٔ څنګـه صـبر کـړم لتانـه

ستا د غټـو غټـو سـترګو بـلا واخلـم
ده پـه تـا مـې د زړګـي دنيـا ودانـه

دا څـهٔ چـل دے چـې وختونـه څـو تيريـږي
لا مـې مينـه سـيوا کيـږي زمـا جانـه

پـروا نشـته کـه مـې تـهٔ پوښـتنه نـهٔ کـړې
زهٔ کـوؤم دې تپوسـونه د هـر چانـه

تـولـه شـپه چـې دواړه ويـخ يُـو تـر سـحره
زهٔ دې غـواړم تـهٔ مـې غـواړه د مـولانـه

ستا لايـق يمـه زمـا ليـونۍ مينـې
پـام کـوه چـې مـا جـدا نکـړې لـه ځانـه

○

چې شعلولے ليونتوب کښې مې ګريوان دے
پوره شوے مې د مينې امتحان دے

چې تول عمر مې دے زړۀ پورۀ نيولے
ستا ارمان دے ستاارمان دے ستا ارمان دے

ګوره څومره خوش نصيبه يم جانانه
چې احساس مې ستا د زلفو بنديوان دے

د فکرونو نه مې ځکه وتے نۀ شي
زما ځان دے زما ځان دے زما ځان دے

رهبرانو قدمونه ګړندي کړئ
وخت تيريږي د سيلۍ په شان روان دے

بل هيڅ شوک دې د نازونو پروا نکړي
يو لايق دے چې په تا باندې قربان دے

لکه ماشوم چې هر يو مخ ته وارخطا ګوري
داسې مې تربے نظر تا لټوي تا ګوري

ساده طبيب د محبت د زوره نۀ دے خبر
لاس ئې رپيږي په سينه کښې زړۀ زما ګوري

دا چې بيا بيا مروريږي په وړه خبره
راکوي زور ځکه چې زور مې د وفا ګوري

زما د زړۀ په پرهرونو مالګې اوړوي
چې په محفل کښې مې رقيب ته په خندا ګوري

دا مې باور دا مې يقين دا عقيده لرمه
زما په لوري به يو ځلې خامخا ګوري

دا هسې نه ده خامخا څۀ چل خو دے لايقه
چې په لار ځمه راپسې ټوله دنيا ګوري

○

بد کوي که ښۀ کوي
نن به فیصله کوي

څنګه په هنر هنر
لوبې مې په زړۀ کوي

زړۀ په یو نظر کښې وړي
څۀ خوارۀ کاتۀ کوي

څله د جنون زما
هر چاته قیصه کوي

رابه شم او رابه شم
تل دغه وعده کوي

وینې چې لایق کله
اوخاندې دا څۀ کوي

يـم پـه زړۀ سـورے خـو د دنيـا نـه ګيلـه نـۀ کـوؤم
خپـــل غمونـــه ژاړم د بـــل چانـــه ګيلـــه نـــۀ کـــوؤم

هـر څـوئـې کـه زۀ پـه نيمـه لاړ کښـې پـاتې کـړے يـم
بيـا هـم زۀ د هاغـه بـې وفـا نـه ګيلـه نـۀ کـوؤم

مينــــــه د جانـــــان ملګــــرو ډېــــــره زورَ وره ده
څکـــه پـــه ژړا کښـــې د ژړا نـــه ګيلـــه نـــۀ کـــوؤم

دغـه پښـتون سر مې ستا غـرور تـه ټيټيـد ے نشـې
وړم پـــه زړۀ دردونـــه خـــو لتانـــه ګيلـــه نـــۀ کـــوؤم

وخت د خوشحالۍ وي ولې شونډو ته مې نۀ راځي
دا زمـا نصـيب دے د خنـدا نـه ګيلـه نـۀ کـوؤم

زۀ لايـق پـوهيږم چـې انکـار ئـې درتـه کـړے دے
مـۀ ژاړه ريبـاره زۀ خـو سـتا نـه ګيلـه نـۀ کـوؤم

○

چـــې فيصـــلې تـــولې پخپلـــه کـــوې
زړګيـــه مانـــه ګيلـــه ګلـــه کـــوې

پــه انتظــار مــې ســترګې ســپينې شــولې
تـــهٔ بـــه زمـــا پوښـــتنه کلـــه کـــوې

چـــې مـــا پـــه دار کـــړي ليـــوني وختونـــه
تـــهٔ بـــه اظهـــار د مينـــې هلـــه کـــوې

هـــڅو پـــه چـــل بانـــدې دې پوهـــه نشـــوم
کلـــه يـــوه او کلـــه بلـــه کـــوې

چـــې ليونتـــوب دې هيـــروئے لايقـــه
د مينـــې تـــول پـــه کومـــه تلـــه کـــوې

○

ستا د زنې خال شومه ګل دې د اوربل شومه
تا پسې پاګل شومه زۀ تاپسې پاګل شومه

تا چې راته اوکتل تا چې راته اوخندل
پوهه په ځان نشومه ټول بدل بدل شومه

سترے چې حالاتو کړم ستا سترګو ته راغلمه
ځکه مينه مينه شوم زۀ غزل غزل شومه

راغله چې په شونډو مې ستا د محبت قيصه
هله مې ځان اوليدو هله مکمل شومه

خدائے خبر لايقه چې ولې منزل نۀ راځي
خپې زما تنها کې شوې سترے په مزل شومه

○

چــــې د رخســــار نــــه دې تـــاویږي غــــزل
خــــود بــــه د مینــــې نــــه خبریــــږي غــــزل

دا حقیقــــت د ے چــــې د زړۀ پــــه وینــــو
چــــې کلــــه رنــــګ شــــي نــــو جــــوړیږي غــــزل

زمــــا جنــــون ســــره خبــــرې کــــوي
چــــې پــــه خنــــدا کښــــې دې خنــــدیږي غــــزل

مــــا دې پــــه نــــوم بانــــدې بــــلا اولیکــــل
تاتــــه مــــې یــــو هــــم نــــۀ یــــادیږي غــــزل

ترینــــه جــــوړیږي نــــوم د یــــار لایقــــه
چــــې پــــه احســــاس مــــې راوریــــږي غــــزل

○

راشـــــه بــــې لتــــا ليـــــونے کيږمــــه
تـــا پســــې اشـــنا ليـــونے کيږمـــه

تـــهٔ چـــې مـــې تپـــوس پوښـــتنه نـــهٔ کـــوې
اوس بـــــه خامخـــــا ليــــونے کيږمــــه

دا چــــې تــــر ســــحره ســــتورې شــــمارمه
تـــا لتهــــووم تــــا ليــــونے کيږمــــه

نـــــور دې انتظـــــار کــــولے نشــــمه
راشــــه پــــه والله ليــــونے کيږمــــه

دا ليــــونے زړهٔ بــــه شــــي لتــــا صــــبر
دا مـــــهٔ وايــــه دا ليــــونے کيږمــــه

زهٔ لايـــق جانانـــه د بـــل چـــا نـــهٔ يـــم
ســـتا يمـــه زهٔ ســـتا ليـــونے کيږمـــه

زړۀ مــې دردونــه کــوي، چــې کلــه تــا یــادوۀم
ځــان تــه خیــرې کوومــه تــا پــه دعــا یــادوۀم

بغیــر لتــا د ژونــدون، هــډو مــزه نشــته دے
راشــه خبــر مــې واخلــه زۀ دې بیــا بیــا یــادوۀم

تــۀ مــې تپــوس نکــوې، ځکــه بــې غمــه ګرځــې
زۀ دې قـــدم پـــه قـــدم خـــوږه اشـــنا یـــادوۀم

چې مــې د خـولې نـه خیـژي، سـاړۀ سـاړۀ آهونـه
ســـتا بـــې رخـــي یـــادوم خپلـــه وفـــا یـــادوۀم

چـــې لیـــونۍ مینـــه مـــو، لایقـــه عامـــه نشـــي
ځکــه د خلقــو نــه دې داســې پــه غــلا یــادوۀم

○

زړۀ مــې دردونــه کــوي چــې رايــاديږې زمــا
ثنـګ بـه هيريـږم لتـا ، ثنـګ بـه هيريـږې زمـا

بغيــر لتــا د ژونــدون ، هــلهٔو مــزه نشــته د ے
چې کوم خوا ګورمه تۀ خيـال کښې خنديږې زما

هــيڅ نــۀ پوهيږمــه زۀ ، څنګــه لتــا صــبر شــم
چې پـه سـلګو کښـې داسـې مـدام اوسـيږې زمـا

چې شـم يـوازې کلـه ، سـتا تصـور مـې يوسـي
لکــه د پرخــې پــه شــان پــه زړۀ وريــږې زمــا

خير کـه يـو بـل تـه پـه خولـه، څۀ غـګ کـولے نشـو
پــه زړۀ پوهيږمــه ســتا پــه زړۀ پــوهيږې زمــا

زمــا ســـاده لايقــه دغــه پښــتو دې مـــنم
چــې پــه مجبــوره مينــه مــدام نــازيږې زمــا

○

تمامـــه شـــپه دې تصـــويرونه جوړومـــه ژاړم
د لاســو نخښــې دې پــه مينــه ښــکلوومه ژاړم

ستا د ارمـان ځلـي تـه ناسته يم سلګو نيـولې
زۀ تـــر ســحره پـــوره شـــمعې بلوومـــه ژاړم

د خپل نصيب د کتـاب پانړې ستا د نوم په لټون
پــــه ډيـــــره ويـــــره اړوم را اړومـــــه ژاړم

اوښــکې زمـا پـه ارمـانونو بانـدې لـوبې کـوي
زۀ اړخونـــه پـــه ســلګو کښــې بدلومـــه ژاړم

چې مـاځيګر شي د چنـار سيوري تـه غلے کيـنم
د وخـت ګردونـو کښې دې نخښې لټوومـه ژاړم

د مجبـورۍ او بـې وسـۍ پـه سـرو لمبـو لايقـه
خپـــل ناتمامـــه حســـرتونه ســـوزوومه ژاړم

زۀ چې قدم اخلم شاته ګورمه
هيڅ وئيلے نشم تاته ګورمه

دا چې په خوله غږ کولے نشم
زار دې شمه ستا حيا ته ګورمه

شابسې تکره شه بهانې کوه
زۀ به دې صبا صبا ته ګورمه

دا چې ښکته ګورې ما ته نۀ ګورې
زۀ به دې هم دې ادا ته ګورمه

ما خو هر څۀ اووے په ښکاره ښکاره
اوس به ګرانې ستا وفا ته ګورمه

زۀ لايق نازونه دې منمه خو
څو به د غرور خندا ته ګورمه

نـــوے موســـم د ے تماشـــې نـــوې دي
ربـــاب هغـــه د ے خـــو نغمـــې نـــوې دي

ریبـــاره اووایـــه چـــې څـــۀ ئـــې وئیـــل
نـــن دې پـــه سـترګو کښـــې قیصـــې نـــوې دي

دا بـــې صـــبري مـــې ســـیوا کیـــږي ځکـــه
مینـــــه زړه ده خـــــو جـــــذبې نـــــوې دي

پـــه میخانـــه کښـــې غلـــے ځکـــه ناســـت یـــم
فطـــرت مـــې هاغـــه د ے نخـــرې نـــوې دي

دغــــــه زمــــــا د لیوتتــــــوب اثــــــر د ے
چـــې دې پـــه ســـترګو کښـــې نشـــې نـــوې دي

هلــــــه زر راشــــــه بهــــــانې مــــــۀ کــــــوه
د لایـــــق زړۀ کښـــــې زلزلـــــې نـــــوې دي

○

مــا دې غمونــه ژړوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه
لکــه ماشــوم مــې زوروي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

زهٔ خــو اظهــار د محبــت پــه جــار کوومــه ولــې
خلــق خبــرې جــوړوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

چې مې ليمو ته راځي کله ستا خوارهٔ يادونه
رانــه خوبونــه تختــوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

زهٔ کــه هــر څــو تــوبې اوباســم قســمونه خورمــه
زړهٔ مــې دردونــه زيــاتوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

دا ستا په نوم مې شپه او ورځې ظالمان وختونه
پــه څــو څــو ځلــه قتلــوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

لايقــه اور د محبــت مــې د زړګــي پــه دنيــا
لمبــه لمبــه لــوبې کــوي جانانــه څــهٔ اوکړمــه

○

چې مې د زړۀ په پرهرونو کښې اوسيږي جانان
نصيبه وايه څنګه مانه به هيريږي جانان

چې اسويلے مې خولې له راشي سترګې پټې کړمه
په چيغو ژاړم بې اختياره مې ياديږي جانان

لکه زما ئې رواجونو هره لار نيولې
ګنې خبريږم چې د حاله مې خبريږي جانان

لکه چې زۀ ترې صبريدے په سوګندونو نشم
داسې زما نه په يو حال هم نۀ صبريږي جانان

زۀ چې يوازې چرته کينمه سوچونو وړے
لکه لمبه مې د ارمان نه چاپيريږي جانان

لايقه زۀ چې د قلم سره خبرې کووم
خيال ته مې راشي راته اوګوري خنديږي جانان

○

زړهٔ چې پاګل شي نو جانان غواړي
د يو ارمان نه بل ارمان غواړي

لکه د سيوري راپسې دے بيلتون
زما د ځان نه زما ځان غواړي

د ليوني زړهٔ ليونتوب ته ګوره
په دې ګرانۍ کښې رانه ګران غواړي

مونږ د الله نه محبت غوښتلے
نا پوهه خلق ترې ايمان غواړي

د تنـــــــدرونو انـــــدازې نـــــۀ لـــــري
څـــوک چـــې ســـوالونه د بـــاران غـــواړي

زمـــا بـــې صـــبره تنهـــائي زمـــا نـــه
هاغـــه محفـــل هاغـــه يـــاران غـــواړي

لايقـــــه بيـــــا د حســـــرتونو څلـــــې
د رڼـــو اوښـــکو چراغـــان غـــواړي

# ګام

داســـې اورم پېښـــور د مينـــې ښـــار وو
لـــور پـــه لـــور وُو د يـــارانو محفلونـــه
اوس دې ښـار کښـې د سـکون تصـور ګران د ے
پـــه هـــر ګـــام خـــوارۀ وارۀ دي وحشـــتونه

○

خير دے تهٔ که بې وفا شوې زهٔ به ستا مينه پالمه
چې مې خومره زندګي وي زهٔ به دا مينه پالمه

که حالات مې ليونے کړي رواجونه مې بدنام کړي
که رسمونه مې په دار کړي زهٔ به بيا مينه پالمه

چې مې واړه ارمانونه ستا ارمان ته صدقه کړهٔ
په حساب او کتاب نهٔ يم زار لتا مينه پالمه

که وختونو ظالمانو په ما ډيرې لوبې اوکړې
هيڅ پروا مې په دې نشته خامخا مينه پالمه

زهٔ چې کوم طرف ته ګورم بلا سترګې راپسې دي
که ښکاره مينه پالمه که په غلا مينه پالمه

نورې مينې مې شوې هيرې په مزه مزه لايقه
چې اشنا سره اشنا شوم د اشنا مينه پالمه

○

لار چې دې بيله کړه زما نه دا دې ښۀ اونکړۀ
داسې څوک نۀ کوي جانانه دا دې ښۀ اونکړۀ

ما خو پتا باندې د ټول عمر اتبار کړے وو
تا مې د زړۀ دنيا کړه ورانه دا دې ښۀ اونکړۀ

چې دې زما په تن بدن باندې لمبې بلې کړې
کړم دې په ژوند باندې ستومانه دا دې ښۀ اونکړۀ

تا چې زما په محبت پورې خندا اوکړله
زړۀ به مې اوچوي د خفګانه دا دې ښۀ اونکړۀ

چې سپک نظر دې داسې اوکړو غريبۍ ته زما
يه د ښائست د کلي خانه دا دې ښۀ اونکړۀ

چې زۀ لايق دې وار خطا يوازې پاتې کړمه
هر څۀ دې هير کړۀ په اسانه دا دې ښۀ اونکړۀ

○

ښکلـــه لتـــا نـــه کړمـــه صـــبر دا خپـــل زړۀ ليـــونے
تـــا نـــه قربـــان تانـــه لـــوګے زمـــا ســـاده ليـــونے

دغـــه وختونـــه ظالمـــان دې چيرتـــه ويخـــه نکـــړي
زمـــا د زړۀ پـــه پرهرونـــو کښـــې اودۀ ليـــونے

مـــا خـــو بـــې تـــا نـــه د بـــل چـــا مـــخ تـــه کتلـــي نـــۀ دي
خفـــه خفـــه ګرځـــې لـــه مـــا داســـې پـــه څـــۀ ليـــونے

هســـې خپـــل زړۀ تـــه د دروغـــو تســـلي ورکـــوۀم
ګنـــي بـــې تـــا نشـــته د ژونـــد هـــډو مـــزه ليـــونے

د دنيـــا ســـترګې راپســـې دي چـــې رســـوا مـــو نکـــړي
راز مـــې د مينـــې پـــه ســـينه کښـــې پټ ســـاته ليـــونے

پـــه ســـپينه ږيـــره د لايـــق د زړۀ تارونـــه چيـــړي
ســـتا د بڼـــو لانـــدې خـــوارۀ خـــوارۀ کاتـــۀ ليـــونے

○

چې يادومه تېر وختونه ماله خوب نۀ راځي
تل زوروي مې ستا غمونه ما له خوب نۀ راځي

تۀ په بې غمه خوب اودۀ ئې تر سحره پورې
زۀ دې جوړومه تصويرونه ماله خوب نۀ راځي

ستورو ته ګورمه د ځان سره خبرې کوؤم
رابانډې شوي څۀ چلونه ماله خوب نۀ راځي

چې ستا خيالونه مې د ځان نه لرې لرې يوسي
چيچم په غاښو ګبني نوکونه ما له خوب نۀ راځي

چې ستا تصوير په سينه کيدم سترګې پټې کړمه
لا مې سيوا شي ګومانونه ماله خوب نۀ راځي

چې مې په ذهن او تصور شي راخوره لائيقه
ليکمه ټوله شپه شعرونه ما له خوب نۀ راځي

○

هغـه چـې ماتــه پـه ژړا شــوه ورتــه مـا چغــې کــړې
زړۀ مې راډک شو بې اختيار ه مې بيا بيـا چغـې کړې

چـې ئـې زمـا پــه سـينه سـر کيخـو سـلګو اونيــوه
خوَله خوَله مې په سينه کښې هرې ساه چغې کړې

سـتا د راتلـو هـره وعــده تشــه وعـده پــاتې شــوه
څکـه مې ستورو تـه پـه چـپـه خولـه بيګـا چغـې کړې

مـا چې د خپلې بې وسے ساندې شروع کـړې کلـه
يــارانو څــۀ چــې راســره تـولې دنيــا چغــې کــړې

مــا کـــه ژړل نـــو زۀ لايـــق بـــلا مجبـــوره وومـــه
،،زمـا قلمـه ،، پـه سـلګو شـوې ولـې تـا چغـې کـړې

○

زۀ دې د خلقـو د خنـدا کـړم تاتـه ټوقـه ښـکاري
غـم دې د غـم سـره اشـنا کـړم تاتـه ټوقـه ښـکاري

اوس د يـــارانو ســـره ســـترګې لګـــولے نشـــم
داسې دې چم په چم رسوا کړم تاتـه ټوقـه ښـکاري

کلـه د ځـان سـره مسـکے شـم کلـه ګـوتې شـمارم
جوړ ليونے دې پـه ربښـتيا کړم تاتـه ټوقـه ښـکاري

مـــړې بـــس پريـــږده تپوســـونه رانـــه ځلـــه کـــوې
زۀ دې تبـاه زۀ دې تبـاه کـړم تاتـه ټوقـه ښـکاري

سـتا محبـت رابانـدې هسـې رنـګ چلونـه اوکـړۀ
په هر يو ښکلې ګمان ستا کړم تاته ټوقه ښکاري

پـــه زيـــارتونو بانـــدې ګرځمـــه همـــېش لايقـــه
ځـان تـه خيـرې تاتـه دعـا کـړم تاتـه ټوقـه ښـکاري

○

راځـــي چــې مــې خيــالونو تــه خيالونــه د جانــان
جــوړوم پــه هــر ګــلاب کښــې تصــويرونه د جانــان

دا ځکـه بې صـبري مې ورځ تـر ورځـه سيوا کيـږي
غمونـــــه رانــــه غـــــواړي ديدنونـــــه د جانــــان

لاســـونه چـــې مـــې کلـــه دي الله تـــه پورتـــه کـــړي
غوښـتلي مـې سـلګو کښـې دي سـوالونه د جانـان

اوس نۀ دې راځـي خيـر د ے د ريبـار ضـرورت نشـته
دردونـــــه راتــــه وائــــي تـــول حالونــــه د جانــــان

پـه مـخ مـې رنـې اوښـکې د شـيبو پـه شـان وريـږي
چيـــــړم چــــې کلــــه کلــــه ارمانونــــه د جانــــان

دا خلــق ليــوني دي چــې لايــق تــه شــاعر وائـــي
لايـــق خـــو کـــوي هـــر وخـــت صـــفتونه د جانــان

○

خیر که هر څۀ پما تیرېږي تا به نۀ یادوم
که مې د زړۀ دنیا ورانیږي تا به نۀ یادوم

زۀ خفه نۀ یم خو چې تۀ پرې خوشحالیږې اشنا
لا مې غمونه دې زیاتیږي تا به نۀ یادوم

ستا هیرول زما د وس خبره نۀ ده ولې
خو چې ستا زړۀ پرې خفه کیږي تا به نۀ یادوم

تا نه قربان تانه لوګے هډو پروا اونکړې
که زندګي مې بربادیږي تا به نۀ یادوم

په لیونۍ مینه زما باور لره لایقه
خیر د ے که هر څۀ راپیښیږي تا به نۀ یادوم

○

دا چې هر نظر مې حېران پاتې د ے
لاپکښې تصوير د جانان پاتې د ے

هاغه د تول عمر لېونے ارمان
ستا د يو ارمان په ارمان پاتې د ے

څنګه مې سلګو ته وارخطا شولې
لاخو مې د اوښکو باران پاتې د ے

رنګ د بې خودۍ چې مې ليدلے د ے
ځان دې راته پاتې جهان پاتې د ے

نور د هر ګمان له حده وتے يم
ستا مينه ګمان وو ګمان پاتې د ے

څنګه به لايقه ترينه صبر شم
لاخو مې زړګے په لړزان پاتې د ے

○

چې پوره شي هسې مينه د يار نۀ ده
د تسبو د اړولو په شمار نۀ ده

محبت د بې خودۍ په راز پوهيږي
اشنائي د اشنايۍ په اقرار نۀ ده

دا يو زړۀ دے چې د مينې سمندر دے
دا قيصه د تورو زلفو رخسار نۀ ده

کۀ مې ناز که لېونتوب دے واړه ستا دي
بې له دې مې بله مينه پکار نۀ ده

چې زما او ستا تر مينځه ريباري کړي
هغه اوښکه که په وار ده په وار نۀ ده

چې لايقه تصور مې پرې رنګين دے
عاشقي مې د جذبو په اقرار نۀ ده

○

دعــــوٰی د بنـــد ګۍ کـــړې خـــو ســـجده نـــۀ پيژنـــې
روان ئـــې ځـــې کعبـــې تـــه خـــو کعبـــه نـــۀ پيژنـــې

تسبې واخلې په لاس ښکاري د جومات په ګوټ ښکاري کينې
تکـــل کـــړې د ,, هغـــه ،، ولـــې ,, هغـــه ،، نـــۀ پيژنـــې

دا ځکـــه دې وينـــا ښکـــاري صـــوفي جانـــه اثـــر نشـــته
کـــــوې د زړۀ خبــــرې ولـــــې زړۀ نـــــۀ پيژنـــــې

د ســـپينو ســـپينو حُـــورو ليـــوني خوبونـــه وينـــې
لالـــچ پـــه ســـترګو ړونـــد کـــړې عقيـــده نـــۀ پيژنـــې

پـه خپلـه آئينـه ښکاري چې د ,,ذات مـخ،، تـه کـتے شې
لټـــون کـــړې د جلـــوؤ ولـــې ,, جلـــوه ،، نـــۀ پيژنـــې

لايقـــه تـــر هغـــې د ليونتـــوب تصـــور ګـــران د ے
تـــر څـــو چـــې تـــۀ د حُســـن فلســـفه نـــۀ پيژنـــې

○

خبر کۀ سپين ډکي مې لګي په ويښتو کښې
لاشوخي مې شته د زړۀ په درزيدو کښې

زما مينې زۀ به ولې بوډا کيږم
ستا تصوير چې مې جوړيږي په ليمو کښې

د مستۍ احساس مې لاتپه تپه شي
چې ځواني دې شي مسکۍ په اننګو کښې

ستا په مخ د وخت رنګونه داسې ښکاري
لکه ګل چې مخ پټ کړے وي وږمو کښې

چې دې مخ ته په ځير ځير باندې کتے شم
لامې زور شته د احساس په ولولو کښې

بې صبري مې صبر نۀ کوي لايقه
مينه غواړي د اورونو په لمبو کښې

○

چې د خپل کوره راوتل ګران شو
نور پښور کښې اوسيدل ګران شو

د اظهار ژبه لاړه ګونګه شوله
رښتيا ليکل رښتيا وئيل ګران شو

د مينې ټولې جذبې قتل شولې
چاته کتل چاته خندل ګران شو

د اعتماد جنازه اووتله
مينه کول مينه پالل ګران شو

څومره مجبوره شو ,,اتبار،، لايقه
چې د وفا په لاره تلل ګران شو

○

ما چې په چا اتبار کوؤ هغه پردے اوختو
غړ مې اونکړو خو د زړۀ نه مې لوګے اوختو

اوس چې زما نامه هم واؤري نو تندے اوچونړي
څومره بې پته بې پښتو هاغه سړے اوختو

ما چې د چا په سر د هر چا دشمني کوله
هغه سپين سترګے بې وفا لکه ,,ښارے،، اوختو

چې ئې زما په ,,اعتماد،، پورې خندا اوکړله
له زړۀ د درده مې د خولې نه اسويلے اوختو

چې ژوبل ژوبل ئې زما کړو هر ارمان لائقه
هغه ګلاب وو خو ګلاب نه وو ازغے اوختو

# ساندې نغمې شوې

د وختونو هاغه هنداره چې,,, هر حساس پښتون ته ورکښې خپل ځان ښکاري.

پــه هــيـخ حــال د ,, شخصــياتو، ، غــلام نــۀ يــم
,, قام پرست ، ، ووم قام پرست يم قام پرست يم

# لويه خدايه

مړاؤ ګلونو کښې بيا ساه راوله
ربه سپرلي په پښتونخوا راوله

په تراړو تراړو وچو وچو شوندو
يو ځلې بيا هاغه خندا راوله

چې د ذهنونو نه تيارې لرې کړې
داسې رڼا داسې ځلا راوله

هاغه د مينې پخواني وختونه
يو ځلې بيا يو ځلې بيا راوله

چې پښتانه په يو مرکز راټول کړې
خدايه بل داسې احمد شاه راوله

لايقه تل د خدايه سوال کوؤمه
چې مو په ژوند کښې سپين صبا راوله

# بدنامي

چې په قدم قدم بدنام شو پښتون
نۀ په سکون نۀ په ارام شو پښتون

تورو تيارو کښې تيندکونه وهي
نۀ د ,,پښتو،، نۀ د ,,اسلام،، شو پښتون

هر چا پرې خپلې خپلې لوبې اوکړې
کله رسوا کله نيلام شو پښتون

د رهبرانو د نفاق د لاسه
نه يو وحدت شو نه يو قام شو پښتون

د وخت ثپيړو چې تاله واله کړو
که غلام نۀ وو خو غلام شو پښتون

لايقه عرش کښې فرشتو اوژړل
ګير د وختونو چې په دام شو پښتون

# تضاد

مونږه د يو بل قاتلان يُو ګوته بل ته نيسو
د ځان په خپله دښمنان يُو ګوته بل ته نيسو

مونږه کړې هيرې د "غيرت" او د "پښتو" خبرې
د "روايااتو" د "اقدارو" د "جرګو" خبرې
"حيا" مو هيره کړه هم هيرې د "پټکو" خبرې
خبر له دين نۀ د ايمان يُو ګوته بل ته نيسو
د ځان په خپله دښمنان يُو ګوته بل ته نيسو

مونږه په خپل لاس د ابۍ د لاس "کټوۍ" خرڅه کړه
"توره" مو خرڅه کړه ارزانه مو "تونړۍ" خرڅه کړه
"منداړو" خرڅ شو هم د پئيو مو "چاټۍ" خرڅه کړه
مونږه د خپل کور "دلالان" يُو ګوته بل ته نيسو
د ځان په خپله دښمنان يُو ګوته بل ته نيسو

مــونږه پــه خپــل لاس د نيکونــو جوماتونــه وران کــړل
نخښــې مــو ورانــې کــړې پخپلــه مــو قبرونــه وران کــړل
مينــه مــو قتــل کــړه چــې مــونږه ګودرونــه وران کــړل
پــه ورک منــزل پســې روان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو
د ځــان پــه خپلــه دښــمنان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو

مـــونږه پخپلـــه د يـــو بـــل د ســـر ســـودا کـــړې ده
پـــه خپلـــه وينـــه مـــو د جبـــر انتهـــا کـــړې ده
پــه خپــل ماضــي پــورې مــو ټــول عمــر خنــدا کــړې ده
خبــر پــه ګټــه نــه تــاوان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو
د ځــان پــه خپلــه دښــمنان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو

پــه خپــل عمــل بانــدې شــو هــر چرتــه رســوا لايقــه
نــۀ مــو دنيــا شــوله نصــيب نــۀ مــو عقبــا لايقــه
پــه داســې حــال کښــې بــه ګيلــه کــوؤ لــه چــا لايقــه
ځــۀ بــد نصــيبه انســانان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو
د ځــان پــه خپلــه دښــمنان يُــو ګوتــه بــل تــه نيســو

# خپله وينه

د هــــر چانـــــه دي ښــــكلي نـــازولي پښـــــتانۀ
دا ځكــه پــه تيپـو كښــې مــې ســتائيلي پښــتانۀ

شـيندلي پـه وفـا ئــې هميشــه دي خپــل ســرونه
ليكلــي ئـــې پـــه وينـــو لـــه ازلـــه تاريخونـــه
حـــالاتو پـــه څـــو ځلـــه ازمـــائيلي پښـــتانۀ
دا ځكــه پــه تيپـو كښــې مــې ســتائيلي پښــتانۀ

هـر څـو كـړل كـه حـالاتو د يـو بـل نـه لـرې لـرې
شـــو پـــاتې د مـــرام او د منـــزل نـــه لـــرې لـــرې
د يـــو بابـــا نمســـي دي تـــول ښـــاغلي پښـــتانۀ
دا ځكــه پــه تيپـو كښــې مــې ســتائيلي پښــتانۀ

مئين چې پـه مړانـه دي مئـين چې پـه غيـرت دي
مئين چې پـه حيـا دي هـم مئـين چې پـه عـزت دي

يــا د يږي پــه نــړۍ کښــې چــې ســپيځلي پښــتانۀ
دا ځکــه پــه تپــو کښــې مــې ســتائيلي پښــتانۀ

تــر څــو چــې ســره يــو نــۀ شــي لايقــه نــو ورکيــږي
وجــود ئــې تبــاه کيــږي روايــات ئــې تــالاکيــږي
چــې کلــه بــه پــوهيږي خــدائے وهلــي پښــتانۀ
دا ځکــه پــه تپــو کښــې مــې ســتائيلي پښــتانۀ

# جنون

مينــې ليــونے کــړم ســتا غمونــو ليــونے کړمــه
خــدائيګو د زړۀ ســره ســتا يــادونو ليــونے کړمــه
څــۀ راســره تــا پښــتو اونکــړه بــې وفــا شــولې
څــۀ دغــه خــود ســره رواجونــو ليــونے کړمــه
هر څوک چې مې ويني داسې وائي په تا څۀ اوشو
زۀ دغـــه د خلقـــو تپوســـونو ليـــونے کړمـــه

# پيغور

تــر كــومي بــه د خــوب پــه تــال ځنګيــږئ پښــتنو
كــه نــن چــرې ويــخ نشــوئ نــو وركيــږئ پښــتنو

ځــوانۍ مــو كړلــې خــاؤرې پــه ,,چرګــانو،، جنګولــو
د ,,ســپو،، پـــه جنګولـــو ,,مرزانـــو،، جنګولـــو
لـــه ځانـــه خبـــر نـــۀ ئـــې بربـــاديږئ پښـــتنو
كــه نــن چــرې ويــخ نشــوئ نــو وركيــږئ پښــتنو

تــر ننــه پــه ,,بــې ځايــه،، غيرتونــو مــو لا جنــګ دے
په ,,پولو،،مو لاجنګ دےپه ,,ورخونو،،مو لا جنګ دے
د وخـــت نـــه پـــاتې كيـــږئ تبـــاه كيـــږئ پښـــتنو
كــه نــن چــرې ويــخ نشــوئ نــو وركيــږئ پښــتنو

ټوپــک پــه غــاړه ګرځــې د قلــم فكــر مــو نشــته
يــو بــل پــه كــاټو اوولــې د ادم فكــر مــو نشــته

غرقيـــږي نـــه پـــوهيږئ نـــه پـــوهيږئ پښـــتنو
کـــه نـــن چـــرې ويـــخ نشـــوئ نـــو ورکيـــږئ پښـــتنو

راپـــاڅئ د دوران نـــه د کـــاروان پوښـــتنه اوکـــړئ
لايقـه د خپـل ځـان نـه ,,د خپـل ځـان ،، پوښـتنه اوکـړئ
تـــر څـــو بـــه نفرتونـــو کښـــې ســـوزيږئ پښـــتنو
کـــه نـــن چـــرې ويـــخ نشـــوئ نـــو ورکيـــږئ پښـــتنو

# حوصله

زړۀ ئـــې رانـــه يـــوړو پـــه هنـــر هنـــر
ســـتا د غلچکـــو ســـترګو نـــه ځـــار شـــمه
اوســـي چـــې هـــر وخـــت زمـــا پـــه ســـترګو کښـــې
زار شـــم د هغـــو ســـترګو نـــه ځـــار شـــمه

# احساس

چــې لـــوټلے زۀ د ,, هـــر دور ، قـــارون[1] يـــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه دا ده چـــې پښـــتون يـــم

بـــدنام کـــړے چـــې د هـــر ,, جبـــر ، قـــانون يـــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه دا ده چـــې پښـــتون يـــم

يـــم خـــرڅ کـــړے ,,خـــود غرضـــه[2] ، رهبرانـــو
د وختونـــو پـــه بـــې رحمـــه دلالانـــو
پـــه مـــخ مـــخ يمـــه وهلـــے غاصـــبانو
چـــې حـــالاتو پـــه دار کـــړے نـــن پـــرون يـــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه دا ده چـــې پښـــتون يـــم

پـه خپـل کـور کښـې يـم بـې کـوره پـاتې شـوے
زور لـــرم خـــو يـــم بـــې زوره پـــاتې شـــوے

[1] هاغه استعماري قوتونه کوم چې کله هم د پښتون قام وحدت نۀ غواړي۔
[2] د کال ۱۸۹۳ء واقعه چې کله د پښتون قام په وجود د ډيورنډ کرښه راښکلې شوه۔

په شته مور[1] کښې يم بې موره پاتې شوے
قتل کړے چې ارمان د صباؤن يم
زما لويه گناه دا ده چې پښتون يم

دا چې پاتې د يو بل نه زۀ پردے يم
د منزل په تکل گرځم ليونے يم
فنا کيږم د لمبې د سر لوگے يم
لاتر اوسه چې د ,,خپل ځان،، په لټون يم
زما لويه گناه دا ده چې پښتون يم

يم بې وسه خو پاللے مې غيرت دے
خپله خاؤره مې حيا ده هم عظمت دے
زما ژوند د امن مينې علامت دے
که هر څو د خپل ليلى وطن مجنون يم
زما لويه گناه دا ده چې پښتون يم

يم انسان له هر انسانه قربانيږم
باشعور يم سرېتوب باندې پوهيږم

[1] پښتو ژبه

خـو نـړۍ کښـې د ,,وحشـي[1]، ، پـه نـوم يـا ديږم
دا چـې داسـې بـې سـکون ووم بـې سـکون يـم
زمـــا لويــــه ګنـــاه دا ده چـــې پښــــتون يـــم

جهالـــت[2] کړمـــه رســوا خپلـــو پـــردو کښـــې
تيـــرووم ځکـــه وختونـــه پـــه ســـختو کښـــې
بــې حسـي مـې کـړي اورونـه پـه جـذبو کښـې
چـــې ســـتومانه لـــه ازلـــه پـــه ژونـــدون يـــم
زمـــا لويــــه ګنـــاه دا ده چـــې پښــــتون يـــم

دا پـــه برخـــه چـــې مـــې شـــومره محرومـــۍ دي
پـــه ســـبب د نـــاپوهۍ او کـــم علمـــۍ دي
ورځـــې شـــپې مـــې ځکـــه اور د زنـــدګۍ دي
دا چـې پـاتې بـې عنوانـه شـان مضـمون يـم
زمـــا لويــــه ګنـــاه دا ده چـــې پښــــتون يـــم

[1] د پښتون قام خلاف د خارجي ميډيا پروپيګنډه.
[2] زمونږ د ټولو بدبختۍ اصلي سوب د تعليم نه لرې والے.

چــې راتــول شــم د ســلګو بــدل بــه اخلــم
ددې واړه محرومـــو بـــدل بـــه اخلـــم
د هـــر جبـــر او ســـختو بـــدل بـــه اخلـــم
لامــړ نــۀ يــم خــو پــه طمــع د بــدلون يــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه دا ده چـــې پښـــتون يـــم

دا ګنـــاه بـــه پـــه ثـــواب کښـــې بدلومـــه
د ماضـــي تـــاريخ بـــه بيـــا تـــازه کوومـــه
غـــږ د امـــن بـــه نـــړي تـــه رســـوومه
دا چـــې نـــن لايقـــه داســـې ځيګـــر خـــون يـــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه دا ده چـــې پښـــتون يـــم

# څريکه

تـــۀ چـــې زمـــا د زړۀ کعبـــه ورانـــوې
ســـتا پـــه ســـجدو بانـــدې دې اور اولګـــي
چـــې ,,ليونتوب،،زمـــا پـــاللے نـــۀ شـــي
ســـتا پـــه وعـــدو بانـــدې دې اور اولګـــي

# خپله خاوره

ثـــوک بـــه کابـــل او پېښـــور يـــادوي
ثـــوک بـــه ښائســـت د هشـــنغر يـــادوي
د چـــا خيبـــر د چـــا تيـــراه خوښـــه ده
زمـــا دا ټولـــه پښـــتونخوا خوښـــه ده

دغـــه ســـاده بـــاده ســـپيڅلي کلـــي
دغـــه وختونـــو نـــازولي کلـــي
د تصـــور نـــه بـــلا ښـــکلي کلـــي
چـــې مـــې ربشـــتيا چـــې مـــې ربشـــتيا خوښـــه ده
زمـــا دا ټولـــه پښـــتونخوا خوښـــه ده

دا د خـــود ســـره ازمـــرو وطـــن دے
د حيانـــاکو ښـــاپيرو وطـــن دے
د ابشـــارونو ســـردرو وطـــن دے

دغــــه دنيـــا مــــې لــــه دنيـــا خوښـــه ده
زمــــا دا ټولـــــه پښـــــتونخوا خوښـــــه ده

دغـــــه ميلــــــې دا اتڼونــــــه زمــــا
دغـــــه حجـــــرې او ګودرونــــــه زمــــا
دغـــــه جرګــــې هــــم محفلونـــــه زمــــا
چــــې ده زمـــــا ځکــــه زمــــا خوښـــــه ده
زمــــا دا ټولـــــه پښـــــتونخوا خوښـــــه ده

دا ورورولـــــــې دې د نظـــــــره نشـــــــې
دغـــــه ســــــپرلي دې د نظـــــره نشـــــې
دغـــــه ســــــيالي دې د نظـــــره نشـــــې
لايقــــه دغـــــه مــــې دعــــا خوښـــــه ده
زمــــا دا ټولـــــه پښـــــتونخوا خوښـــــه ده

# ساندې

د ملاکنډ ګلدرې بيابيا آوازونه کوي
زما بچو هله زر راشئ زۀ يوازې يمه

تاسو چې کله په تودو تودو غرمو سوزيدئ
ما به په خپل نصيب بې شانه تويولې اوښکې
چې به مې ستاسو آوازونه نيمه شپه اوريدل
ما به سلګو کښې له دنيا نه پټولې اوښکې
لا مې زخمونه وازه خوله دي فريادونه کوي
زما بچو هله زر راشئ زۀ يوازې يمه

تاسو چې لاړئ پريشانه نو زما بچوړو
ورکه زما شوه د چينو او چنارونو مزه
چې د وحشت لمبې زما په تن بدن بلې شوې
بيا پاتې نشوه د نختر و ابشارونو مزه

ژوبـل سـينه مـې ليـوني شـانتې دردونـه کـوي
زمـا بچـو هلـه زر راشـئ زۀ يـوازې يمـه

مـا چې د هـر ماشـوم بچـي دي اوريـدلې سـلګۍ
پـه چغـو چغـو مـې الله تـه پـه زارۍ ژړلـي
چـې مـې د پېغلـو اوربلونـه دي سـرتور ليـدلي
ډېـر مـې پـه خپلـه مجبـورۍ او بـې وسـۍ ژړلـي
اور مـې اخسـتے دے لمبـې مـې اندامونـه کـوي
زمـا بچـو هلـه زر راشـئ زۀ يـوازې يمـه

بيرتـه راځـئ زمـا نيـازبينو نـازولو بچـو
بغيـر لتاسـو مـې د حسـن تـذکره نيمګـړې
کـه يـم لايـق د تعريفونـو نـو پـه تاسـو يمـه
چـې تاسـو نـۀ يـئ نـو زمـا هـره قيصـه نيمګـړې
لارو تـه ګـورې انتظـار مـو ښائسـتونه کـوي
زمـا بچـو هلـه زر راشـئ زۀ يـوازې يمـه*

* د ملاکنډ د بې کوره شوؤ وروڼو خويندو د واپس روانيدو په موقع اوليکل شو۔

# ګواهي

چـــې د کلونـــو راســـې د تهـــذيبونو کـــور يـــم
ژونـــدے تـــاريخ لرمـــه د عظمتونـــو کـــور يـــم
د هـــر جـــابر مخکښـــې ولاړ لکـــه د غـــر يمـــه زۀ
وختونـــه مـــا پيژنـــي چـــې پښـــور يمـــه زۀ

مـــا پـــه دې خپلـــه خـــاوره دي ,,ايرانيـــان، ، ليـــدلي
مـــا دي ,,منګـــول، ، ليـــدلي مـــا ,,تاتاريـــان، ، ليـــدلي
پـــه سرو لمبـــو کښـــې د ژونـــدون پـــه نغمـــو سر يمـــه زۀ
وختونـــه مـــا پيژنـــي چـــې پښـــور يمـــه زۀ

مـــا نـــه لاهيـــرې نـــۀ دي ، د ,,يونانيـــانو ، ، قيصـــې
د ,, غزنويـــانو، ، قيصـــې ، د ,, ابـــداليانو، ، قيصـــې
د ,, بُـــدايانو، ، د چـــل ول نـــه هـــم خبـــر يمـــه زۀ
وختونـــه مـــا پيژنـــي چـــې پښـــور يمـــه زۀ

زۀ ئـې وژلـے نـۀ يـم ، کـه دي ,, سـکهان ،، راغلـي
کـه دي مغـل راغلـي ، کـه ,, پيرنګيـان،، راغلـي
د هــر غاصــب او هــر ظــالم ســره پــه شــر يمــه زۀ
وختونـــه مـــا پيژنـــي چـــې پښــــور يمــــه زۀ

نــن کــه زمــا د بچــو ، وينــې هــر خــوا تــوئيږي
بــاور لــرم لايقــه ، دا وخــت بــه هــم بــدليږي
پـه تـورو شـپو کښـې علامـت د سـپين سـحر يمـه زۀ
وختونـــه مـــا پيژنـــي چـــې پښــــور يمــــه زۀ

## شعر

چـې مينـه څـوک اونکـړي نـو دلبـر بـه څنګـه شـي
چې ځان نکړي څوک خاورې نو سرۀ زر بـه څنګـه شـي

# عظمت

درونـــد لکـــه د غـــر پښـــتون
نـــۀ لـــري همســـر پښـــتون
دے لـــه هـــر چـــا بـــر پښـــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون

تـــوره هـــم وفـــا لـــري
ننـــګ لـــري حيـــا لـــري
نـــۀ د چـــا غـــرور منـــي
نـــۀ د چـــا پـــروا لـــري
هـــر څـــۀ نـــه خبـــر پښـــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون

هـــر غاصـــب ويشـــلے دے
ډېـــر ئـــې زورولـــے دے
بيـــا هـــم ژونـــدے پـــاتې دے

کلـــــه چـــــا وژلــــــے دے
تــــوره سراســــر پښـــــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون

بــــس دا بــــدبختي لـــــري
يــــو بـــل نــــه نفــــرت لــــري
نــــۀ لايقـــــه ځـــــان لـــــري
نــــۀ چرتـــــه وحــــدت لــــري
نـــــور دے زورور پښـــــــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون
دے لــــه هـــر چـــا بـــر پښـــتون

## قافله

احمدشـــــاه بابـــا د تخـــت پـــروا اونکـــړه
پښـــتونخوا چـــې ئـــې پـــه زړۀ راوريدلــــه
نـــن چـــې يـــاد د" پښـــتونخوا" ســـره "خيبـــر" شـــو
قافلـــــه مـــــو تـــــر منـــــزل اورســــيدله

# بې کوري

چــې خيــال تــه مــې راغلــې دې خيالونــه د وطــن
پــه ويخــه مــې ليــدلې دې خوبونــه د وطــن

د خپــل وطــن نــه لــرې هــر ســحر پــرد ے پــرد ے د ے
هر څو کــه د ے رنګين خو مازيګر پرد ے پرد ے د ے
خنــدا پــردې پــردې، ده هــم اختــر پــرد ے پــرد ے د ے
جــوړيږي چــې مــې زړۀ کښــې تصــويرونه د وطــن
پــه ويخــه مــې ليــدلې دې خوبونــه د وطــن

چــې کلــه شــم يــوازې ګودرونــه مــې يــاديږي
کــږې وږې کــوڅې کچــه کورونــه مــې يــاديږي
حجــرې راتــه يــاديږي محفلونــه مــې يــاديږي
دردونــو چــې ښــکل کــړي مــې دردونــه د وطــن
پــه ويخــه مــې ليــدلې دې خوبونــه د وطــن

لايقـــــه معتبـــــره ده رښـــــتيا د وطـــــن مينـــــه
وفـــــا د وطـــــن مينـــــه ده حيـــــا د وطـــــن مينـــــه
ژونـدي دې هـر احسـاس کښـې وي زمـا د وطـن مينـه
ليکلـــي چـــې مـــې کلـــه دي شـــعرونه د وطـــن
پـــه ويخـــه مـــې ليـــدلي دي خوبونـــه د وطـــن

## ويره

پـــــه هـــــره لاره چـــــې ځـــــم
نـــــو ښـــــکته ښـــــکته ګـــــورم
پـــــــــــه دې يريږمـــــــــــه زۀ
چـــې ځـــوک زمـــا ســـترګو کښـــې
ســـــتا تصـــــوير اونـــــۀ وينـــــي

# دعوىٰ

دا چې لور په لور خوارۀ دي
ښائستونه ټول زما دي
زۀ د دې خاؤرې بچے يم
دا رنګونه ټول زما دي

زۀ په دې غرونو نازيږم
دا مې خاؤره د بابا ده
دې ښکلا کښې مې سکون دے
دې ګلونو کښې مې ساه ده
چې چپې چپې روان وي
دا سيندونه ټول زما دي
زۀ د دې خاؤرې بچے يم
دا رنګونه ټول زما دي

چــې مــې زړۀ پــرې ټکــوريږي
هغـــــه دا لارې کـــــوڅې دي
پــه دې دُوړو کښــې مــې پټــې
د غيــــرت بـــلا قيصـــې دي
ددې خلقـــــو د خوبونــــــو
تعبيرونـــــه ټـــول زمـــا دي
زۀ ددې خـــاؤرې بچـــے يـــم
دا رنګونـــه ټـــول زمـــا دي

پښـــتانۀ دې ابـــاد اوســـي
دا مـــې ســـوال دا مـــې دعـــا ده
پــه مئـين زړۀ کښــې مــې دغــه
د مـــــودو نـــــه تمنـــا ده
چـــې لايـــق د محبـــت دي
دا نازونـــه ټـــول زمـــا دي
زۀ ددې خـــاؤرې بچـــے يـــم
دا رنګونـــه ټـــول زمـــا دي

# جنازې

هـر کلـي کښـې مـاتم دے کـور پـه کـور دي جنـازې
روانـــې د ســـرو وينـــو لـــور پـــه لـــور دي جنـــازې

ماشوم دے که ځلمے دے بوډۍ مور ده که بابا دے
هــر ذهــن منتشــر دے هــر يــو فکــر وار خطــا دے
يقــين ســلګو نيــولے دے ســکون پــه واويــلا دے
خخيـــږي بـــې کفنـــه ســـوے ســـکور دي جنـــازې
روانـــې د ســـرو وينـــو لـــور پـــه لـــور دي جنـــازې

لړلـــې پـــه ســـرو وينـــو دې حـــالاتو هـــره خـــوا ده
قـــتلان دے د ســـرونو هـــره ســـيمه کـــربلا ده
پـــوهيږم نـــه خالقـــه دا د کـــوم جـــرم ســـزا ده
قتليـــږي ارمانونـــه لـــوئے پيغـــور دي جنـــازې
روانـــې د ســـرو وينـــو لـــور پـــه لـــور دي جنـــازې

خطـــا دي د هـــر چانـــه پـــه تيـــارو کښـــې منزلونـــه
دي ورک د هـــر نظـــر نـــه د خوبونـــو تعبيرونـــه
لايقـــه لمبـــه کيـــږي چـــې نختـــرې چنارونـــه
ټکـــور ټکـــور بـــې نومـــه لکـــه اور دي جنـــازې
روانـــې د ســـرو وينـــو لـــور پـــه لـــور دي جنـــازې

## ويره

زۀ چـــې اوس هـــم کلـــه خفـــه شـــمه نـــو
د هاغـــه لـــوئے چنـــار د لانـــدې کيـــنم
پـــه خـــړو خـــاؤرو کښـــې پـــه يـــره يـــره
ســـتا د نـــامې ســـره خپـــل نـــوم ليکمـــه

# خالقه

په خپله خاوره امن راکه سکون را خالقه
دا مو دے سوال دا مو ارمان دغه دعا خالقه

په بيرته راوله مولا هغه زاړۀ وختونه
هاغه د مينې محبت خواږۀ خواږۀ وختونه
د خوشحالۍ د اطمينان تپه تپه وختونه
چې شي خوره د مايوسۍ په مخ خندا خالقه
په خپله خاوره امن راکه سکون را خالقه

څو به ګردونه کوي لوبې د نيتونو په مخ
څو به خورې وي تورې لړې د ګلونو په مخ
څو به جوړيږي پرهرونه د وختونو په مخ
څو به پرته وي وينې ,,پښتونخوا،، خالقه
په خپله خاوره امن راکه سکون را خالقه

عظيمـه ربـه بـې لتـا مـو بـل درمـان چرتـه دے
اسـره مـو چرتـه ده خالقـه بـل جهـان چرتـه دے
بغيـر د امـن مـو لايقـه بـل ارمـان چرتـه دے
ويجـاړ كورونـه مـو آبـاد كـه يـو ځـل بيـا خالقـه
پـه خپلـه خـاوره امـن راكـه سـكون را خالقـه

## بې حسي

زما د هر پرهر نه وينې ځاځي
زما په كور كنبې لالمبې بليږي
زما نهر بچي تر اوسه پورې
په ټوك ډوډۍ پسې په چغو ژاړي
اورم چې زۀ د پښتونخوا سندرې
په خوله څۀ غږ كولے نۀ شمه خو
د ,, بې حسۍ ،، په ځلي ښۀ اوژاړم

# خواهش

چې ورک شي نفرتونه هره خوا شي مينه مينه
مونږ امن غواړو امن چې دنيا شي مينه مينه

مونږ غواړو چې د علم په هر لور وي مكتبونه
سينګار زمونږ د پېغلو په تعليم وي اوربلونه
سكون وي په هر لوري هره خوا محبتونه
ژوندون په حقيقت كښې زما ستا شي مينه مينه
مونږ امن غواړو امن چې دنيا شي مينه مينه

پاللے په جرګو مو هميشه د قام عزت دے
وركړے مو دنيا ته تل پيغام د محبت دے
اسلام زمونږ پښتو ده هم اسلام زمونږ غيرت دے

مونږ غواړو چې په برخه د هر چا شي مينه مينه
مونږ امن غواړو امن چې دنيا شي مينه مينه

مونږ چرې هم ملګري ددې ظلم جبر نۀ يُو
مونږ کله هم د امن د روري نه بهر نۀ يُو
بيا ولې په نړۍ کښې بدنامېږو خبر نۀ يُو
لايقه چې مو ټوله پښتونخوا شي مينه مينه
مونږ امن غواړو امن چې دنيا شي مينه مينه

## نامه

زۀ خو د امن طلبګار يم ولې
ما هاغه خلق په مخ مخ وهي چې
زۀ ئې نامه هم اخستلے نۀ شم

# تر کومې

خــوارۀ بــه وې تــر کــومې پــه هــر لــوري وحشــتونه
ورانيږي به کورونه

تر څو به وي سينو کښې ساندې ارمانونه
ورانيږي به کورونه

تــر څــو بــه وي ليمــو کښــې ، خوبونــه ترهيــدلي
فکرونــــه بــــه ويــــرجن وي ، ذهنونــــه ترهيــــدلي
تــــر څــــو بــــه پــــه ســــلګو وي ليــــوني محبتونــــه
ورانيږي به کورونه

تــر څــو بــه لــوبې کيــږي ، زمــونږ پــه احساســاتو
بليــــږي بــــه اورونــــه ، د مينــــې پــــه جــــذباتو
قتليــــږي بــــه تــــر کــــومې د وختونــــو ښائســــتونه
ورانيږي به کورونه
تــر څــو پــورې بــه داســې ، هــر خــوا وينــې بهيــږي
د ژونــد پــه پســرلو بــه بيــا بيــا وينــې بهيــږي

تــر څــو بــه ســر تــوريږي مــو د خوينــدو اوربلونــه
ورانيږي به کورونه

راځـــئ چـــې نفرتونـــه ، بـــدل پـــه محبـــت کـــړو
د امـــن پـــه رنګونـــو ، دنيـــا جنـــت جنـــت کـــړو
اودۀ بـــه مـــو لايقـــه وي تـــر کـــومې ضـــميرونه
ورانيږي به کورونه

# رنګونه

د عظمت شملې ئې کله ټيټې مۀ شه
د نـړۍ پـه مـخ چـې څـومره پښـتانۀ دي
ټـول زمـا د خيـال رنګونـه دي لايقـه
چې درانـۀ دي پيـدا شـوي نو درانـۀ دي

# خيبر

جګــه دې اوســي تــر ابــده شــمله ســتا خيبــره
د پښتونخوا خيبره
په سادګۍ کښې دې عظمت دے هم حيا خيبره
د پښتونخوا خيبره

ســتا پــه دې خــره خــاؤره تــاريخ نازونــه کــوي
ټولــه نــړۍ پــه مينــه ســتا صــفتونه کــوي
تــۀ محبــت ئــې مينــه مينــه هــم وفــا خيبــره
د پښتونخوا خيبره

ســتابه وړمــو کښــې پټــې د محبــت ســندرې
ســتا اوچــې تــرې وائــې د ننــګ او پــت ســندرې
تانــه قربــان شــه زمــا مينــه پــه بيــا بيــا خيبــره
د پښتونخوا خيبره

زما او ستا تر مينځه ، يو ابدي نسبت دے
ځه جمالي لايقه ، ځه جلالي نسبت دے
منلے نۀ دے د چا جبر کله تا خيبره
د پښتونخوا خيبره

# لاجواب

زۀ چې سندرې د خيبر وايمه
زۀ چې ټپه د پښتونخوا شروع کړم
ماته زما د قام نهر بچورې
مانه د سوات تالاوالا کورونه
ما نه د دير او د بونير کنډرې
دا يو تپوس په ويره ويره کوي
اوخانده خير دے نن زما په ماتم
خو لږ د خدائے دپاره پوهه مې کړه
مونږ خو به بيا د خپل ګلاب وطن نه
بې ګناه هاغه شاتې نۀ اوباسې؟

# ټکور

دا مې دے سوال چې مينه مينه په هر لور کړې
خدايا ، خدايه پښتونخوا د امن کور کړې
ګودر آباد کړې هره خوا د بنګړو شور کړې
خدايه پښتونخوا د امن کور کړې

چې بيا آباد شي محفلونه
شي په هر لور محبتونه
ټالۍ ټالۍ شي اوربلونه
يو ځلې بيا د ځلمو ګرم ټنګ ټکور کړې
خدايه پښتونخوا د امن کور کړې

چې بيا مسکۍ شي فضاګانې
شي يو تر بله خنداګانې
په ګډا سر شي اداګانې
بيا ښائستونه د يو بل د سترګو تور کړې
خدايه پښتونخوا د امن کور کړې
لايقه ډير مو دي ژړلي

ویجاړ کورونه مو لیدلي
بلا دردونه مو زغملي
زېلي زړونه په مزه مزه ټکور کړي
خدایه پښتونخوا د امن کور کړي

## جبر

پښتانۀ دې در په در شو
د پوښتنې ئې څوک نشته
سالاران د قافلې دي
اوس پښتو ته اوزګار نۀ دي
په هر خوا باندې تالان دے
ستا د قام وینه خرڅیږي
ستا بچي تالا والا شو
ستا د نوم دعویدار ډیر دي
خو عمل په چا کښې نشته
باچا خانه بیرته راشه
لږ تپوس د بچو اوکړه
هسې نه چې پښتون ورک شي
د تاریخ جبر رښتیا شي

# سیالي

خپـــل نـــوم مـــو مبـــارک شـــه غیرتیـــانو پښـــتنو
اوس هســـــکه غـــړې ګرځـــئ ســـربازانو پښـــتنو
نرانـــــــو پښـــــــتنو و یـــــــارانو پښـــــــتنو

ایلـه اوس پـه نـړۍ کښـې د سـیالو سـره سـیال شـوئ
رنګونـــه د جـــلال شـــوئ خالونـــه د جمـــال شـــوئ
خوبونـــه مـــو رښـــتیا شـــو پـــه مـــا ګرانـــو پښـــتنو
اوس هســـــکه غـــړې ګرځـــئ ســـربازانو پښـــتنو

خـوره چـې پـه هـر لـوري نامـه د پښـتونخوا شـوه
تـاریخ کښـې راژونـدۍ بیـا ټپـه مـو د بابـا[1] شـوه
قبـــول مـــو شـــو ســـوالونه مظلومـــانو پښـــتنو
اوس هســـــکه غـــړې ګرځـــئ ســـربازانو پښـــتنو

---

[1] د ډیلي تخت هیرومه چې رایاد کړم
زۀ د خپلې ,, پښتونخوا ،، د غرو سرونه　　　(احمد شاه بابا)

اوس پريږدئ نفرتونه دا وخت د محبت دے
دا وخت د وروروليٰ دے د امن اخوت دے
بدل کړئ ټول سوچونه باتورانو پښتنو
اوس هسکه غړۍ ګرځئ سربازانو پښتنو

لايقه دا خپل نوم مو بدل د قربانو دے
شناخت مو د وجود دے ګواه د زمانو دے
ستائيلے په بيا بيا دے شاعرانو پښتنو
اوس هسکه غړۍ ګرځئ سربازانو پښتنو*

## امبارکي

د دنيا په کومه برخه کښې چې اوسي
,, پښتونخوا ،، دې هر پښتون ته مبارک شي
چې لايقه مئين زړۀ پرې ټکوريږي
دا ليلىٰ دې هر مجنون ته مبارک شي

* په قامي اسمبلۍ کښې د ,, پښتونخوا ،، د قرار داد د منظوريدو په ورځ اوليکل شو.

# سلګۍ

بيا يو بل ارمان په سرو لمبو کښې سوزېدلے د ے
وائې په سلګو کښې خدايه څۀ ګناه مې کړې ده
بيـــا يـــو زلمـــے پـــه خپلـــو وينـــو لمبېـــدلے د ے
وائې په سلګو کښې خدايه څۀ ګناه مې کړې ده

بيـا پـه يـو بـل کلـي د بـارودو بـاران شـوے د ے
بيـــا پښـــتنو جونـــو اوربلونـــه شـــوکولي دي
بيا په يو بل کور کښې د خوبونو قتلان شوے د ے
بيـا د کونډې مـور سـلګۍ تـر عرشـه رسيدلي دي
بيـا يـو بـودا پـلار پـه چغـو چغـو ژړيـدلے د ے
وائې په سلګو کښې خدايه څۀ ګناه مې کړې ده

بيـا يـوه مجبـوره خـور د ورور قبـر تـه ناسـته ده
مـخ وهـي هـم سـر وهـي بيـا بيـا د لېونـو پشـان
بيـا د يـوې نـاوې سـپين پـړونے وينـې وينـې د ے
زۀ فکرونــو وړے وار خطــا د لېونــو پــه شــان
سـر د خپـل مئـين ئـې پـه سـينه پـورې نيـولے د ے
وائـي پـه سـلګو کښـې خدايـه څۀ ګناه مې کړې ده

بيــا پــه يــو کچــه کــور د مــاتم هــوا رالــوتې ده
بيــا د پــلار پــه مــړي ماشــومان راغوړيــدلي دي
بيـــا د کائنـــاتو هـــره ســـاه وار خطـــا شـــوې ده
بيـا پـه لامکـان کښـې مـانړۍ تـولې لړزيـدلي دي
بيـا د يـو بـې وسـه پښـتون ژوندپـه دار خـتلے د ے
وائـي پـه سـلګو کښـې خدايـه څـۀ ګنـاه مـې کـړې ده

څـو بـه مـو پـه خولـه د مجبـورۍ لاسـونه ايښـي وي
څـــو بـــه مـــو ذهنونـــه د وختونـــو غلامـــي کـــوي
څـو بـه مـو بـادارو تـه سـرونه ښـکته کـړي وي
څـــو بـــه مـــو شـــعور د وحشـــتونو غلامـــي کـــوي

بيـا مـې خـو بـه لايقـه دليمـو نـه تختيـدلے د ے
وائـې پـه سـلګو کښـې خدايـه څـۀ ګنـاه مـې کـړې ده
بيـا يـو بـل زلمـے پـه خپلـو وينـو لمبيـدلے د ے
وائـې پـه سـلګو کښـې خدايـه څـۀ ګنـاه مـې کـړې ده

○○

نـۀ پوهيږمـه پـه څـۀ ګنـاه مـې وژنـي
قتلـوي مـې ټـول نيمګـړي ارمانونـه
مجبـوري ده ځکـه غـږ کـولے نشـم
دې حـالاتو مـې ترلـي اندامونـه

# تندرونه

نـۀ یـم خبـر پـه څـۀ سـبب پـه څـۀ ګنـاه ورانیـږي
تنـدر چـې هـر چرتـه غـورزیږي کـور زمـا ورانیـږي

د مرګ په خوب مې خـود غرضـه رهبـران اودۀ دي
اوري سـلګۍ خـو د وختونـو اتـلان اودۀ دي
تیـارې اوږدیـږي ټـولې نخښـې د صـبا ورانیـږي
تنـدر چـې هـر چرتـه غـورزیږي کـور زمـا ورانیـږي

مالـه وختونـه د پښـتو پـه نـوم پیغـور راکـوي
ژوند مې احساس له د جذبو په نوم پیغور راکوي
زړۀ مـې ډوبیـږي چـې زمـا د زړۀ دنیـا ورانیـږي
تنـدر چـې هـر چرتـه غـورزیږي کـور زمـا ورانیـږي

دا چې خرخيږي مې د قام د شهيدانو وينه
ځومره ارزانه شوه زما د نازبينانو وينه
د وطن خاوره کربلا شوه جوړ رښتيا ورانيږي
تندر چې هر چرته غورزيږي کور زما ورانيږي

لايقه هر خوا ته لمبې دي وطن اور اخستے
ګلان رژيږي د رنګونو چمن اور اخستے
ژاړم په دې چې مې خالونه د ليلى ورانيږي
تندر چې هر چرته غورزيږي کور زما ورانيږي

☆☆☆

دا چې زۀ د پښتنې مورې پيدا يم
هر غاصب مې هم په دغه ګناه وژني
جوړ لوستلے ئې تاريخ د پښتون نۀ دے
نۀ پوهيږي چې ځان وژني که ما وژني

# پښتون

پـــروت پـــه ســـمه غـــر پښـــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون
تـــول د يـــو وجـــود پـــه شـــان
لـــر پښـــتون دے بـــر پښـــتون

دا د ابـــــــدالي وينـــــــه
ســـترګو کښـــې جـــلال لـــري
خـــوي د ميـــرويس خـــان لـــري
تُـــوره د خوشـــحال لـــري
هـــر خـــوا خـــوروي رڼـــا
لاســـو کښـــې مشـــال لـــري
نـــۀ چرتـــه ثـــاني لـــري
نـــۀ چرتـــه مثـــال لـــري

امـــــن د نـــــړۍ غـــــواړي
نـــــهٔ خوښـــوي شـــر پښـــتون
تـــول د يـــو وجـــود پـــه شـــان
لـــر پښـــتون دے بـــر پښـــتون

دا قـــام د ,, نـــازو* ،، ابـــۍ
مينـــــې نـــــازولے دے
پېغلـــې ملالـــۍ ځکـــه
تنـــګ تـــه پـــارولے دے
زور د دې ننګيـــال اولـــس
هـــر غلـــيم مـــنلے دے
مينـــه غـــواړي مينـــه کـــړي
ځکـــه خـــو ښـــاغلے دے
تـــل د خپـــل وطـــن پـــه نـــوم
ســـر ورکـــوي ســـر پښـــتون
پـــروت پـــه ســـمه غـــر پښـــتون
نـــر پښـــتون دے نـــر پښـــتون

* نازو ابۍ ذ لوئے قهرمان پښتون احمد شاه بابا د مور نوم

چــــا ئـــې ســـــودا کـــړې ده
چــــا چــــا زورولــــــے دے
چــــا د عقيــــدو پــــه نــــوم
کـــــور پـــه کـــور ويشـــلے دے
چــــا چــــا د پښـــتو پـــه نـــوم
دار تـــــــــه خېــــــــژولے دے
چــــا د وخـــت اورونـــو کښـــې
بيــــا بيـــــا ســـــــوزولے دے
پوهــــــــه دے لايقـــــــه ښـــــــهٔ
چــــا کـــړو در پـــه در پښــــتون
اخلــــــې بــــه بــــدل اخـــــر
نـــهٔ دے بــــې خبــــر پښـــــتون
تـــول د يـــو وجـــود پـــه شـــان
لـــــر پښـــتون دے بــــر پښــــتون

# ويا ړ

چا پــه فريبونــو او دولــت مينــه ګټلــې ده
مــونږه د جــذبو پــه صــداقت مينــه ګټلــې ده

چا پـه هـر نظـر کښـې د چـل ول دامونـه ايخـي دي
چا پـه چاپلوسئ کښـې ول پـه ول دامونـه ايخـي دي
مــونږه د ســرونو پــه قيمــت مينــه ګټلــې ده
مــونږه د جــذبو پــه صــداقت مينــه ګټلــې ده

چا د چا پـه لاسـو کښـې د ځـان کرښـه راښـکلې ده
چا پکښــې د وهــم او ګمــان کرښــه راښــکلې ده
مــونږ پــه بــې غرضــه محبــت مينــه ګټلــې ده
مــونږه د جــذبو پــه صــداقت مينــه ګټلــې ده

چا د خپل غرض دپاره لاس جوړه نيودلي دي
چا د مکر اوښکې په ليمو کښې ځايه ولي دي
مونږه ښځه په نره په غيرت مينه ګټلې ده
مونږه د جذبو په صداقت مينه ګټلې ده

مونږه په ښکاره باندې اظهار د مينې کړے دے
ښځه په جار لايقه مونږ اقرار د مينې کړے دے
مونږه ليونو په بغاوت مينه ګټلې ده
مونږه د سرونو په قيمت مينه ګټلې ده

○

زۀ پښتون يم تاريخ زما ګواه دے
ما ګټلے ځان د وينې په قيمت دے
په هيڅ حال کښې جبر ما نۀ دے منلے
په ښکاره باندې مې کړے بغاوت دے

# ارمان

پښتو دې شوه سرتوره میرویس خانه چرته ئې
بچې دې در په در شو باچا خانه چرته ئې

وریږي نن په کور دې د بارودو بارانونه
تالا شو تالا کیږي ستا د پېغلو اوربلونه
خاموشه دې پراتۀ دي د رباب واړه تارونه
بابا اجمله راشه زمونږ ځانه چرته ئې
بچې دې در په در شو باچا خانه چرته ئې

نن ستا په پښتونخوا کښې هر یو فکر وارخطا دے
د ځان په ویر اخته دے دلته ځوان دے که بوډا دے
وحدت تالاوالا دے هر نظر جدا جدا دے
اواز اوکړه یو واري صمد خانه چرته ئې
بچې دې در په در شو باچا خانه چرته ئې

پښتون دې په نړۍ کښې د وحشي په نوم ياديږي
بې کسه پاتې شوے رسوا شوے رسوا کيږي
تر کومې به اورونه لور په لور باندې بليږي
لايق دې لارې ښاري راشه ګرانه چرته ئې
بچې دې در په در شو باچا خانه چرته ئې
بچې دې در په در شو باچا خانه چرته ئې

# منزل

د پښتون دغه نصيب دے له مودو نه
چې په يو کور کښې د يو بل نه پردے دے
څه احساس د بل وجود ورسره نشته
په پردو پسې روان دے ليونے دے

# افتخار

خیبــره بختــور شــوې لا نــور هــم معتبــر شــوې
نړۍ کښې به اوس تهٔ په پښتونخوا باندې یادېږې
زهٔ تــا بانــدې یــادېږم تــه مــا بانــدې یــادېږې

منم چې تهٔ خیبر وې اوس زړهٔ د ,, پښتونخوا ، ، شوې
لا نــور قــدر دې زیــات شــو لا نــور حیــا حیــا شــوې
شــمله د پښــتنو ئــې پــه وفــا بانــدې یــادېږې
زهٔ تــا بانــدې یــادېږم تــه مــا بانــدې یــادېږې

مــنم چــې تــهٔ امــین ئــې ، زمــا د عظمتونــو
ګــواه اوســه ګــواه ئــې زمــا د غیرتونــو
دره د میړنــو ئــې هــره خــوا بانــدې یــادېږې
زهٔ تــا بانــدې یــادېږم تــه مــا بانــدې یــادېږې

لايقه چې خپل کور کښې ، د خپل نوم خاوندان شو
په خپل وطن دننه ، سرلوړي مئينان شو
خيبره مبارک شه په بيا بيا باندې يادېږې
زهٔ تا باندې يادېږم ته ما باندې يادېږې

# خيبر

چې خيبره تهٔ زما په نامه ياد شوې
پښتنې جذبې مې بيا تپه تپه شوې
د يو بل نه بېلېدل مو ځکه ګران شو
زهٔ دې روح شوم په ما ګرانه تهٔ مې زړهٔ شوې

# منزل

د وخت د تورو شپو نه د ژوند د ناكړدو نه
د مينې او د امن د اوربل په لور به ځو
كه هر څنګه حالات وي د منزل په لور به ځو
د منزل په لور به ځو

بدل چې شي يقين كښې، وهمونه ګمانونه
رښتيا چې شي د مينې، تنكي تنكي خوبونه
د نوي صباؤن د تاج محل په لور به ځو
كه هر څنګه حالات وي د منزل په لور به ځو
د منزل په لور به ځو

د زړونو فاصلې چې، يو بل ته رانزدې شي
شي يو محبتونه، چې ختمې فاصلې شي
ازغي كه رانه تاؤ وي خو د ګل په لور به ځو
كه هر څنګه حالات وي د منزل په لور به ځو
د منزل په لور به ځو

لايقـه چـې پښـتـو وي، سـرونه بـه تـرې زار کـړو
ارمان به تـر لـوګے کـړو، خوبونـه به ترې زار کـړو
د دار پـه لـور بـه ځـو هـم د مقتـل پـه لـور بـه ځـو
کـه هـر څنګـه حـالات وي د منـزل پـه لـور بـه ځـو
د منــزل پــه لــور بــه ځــو

# اراده

پــــروا نشــــته کــــه د ژونــــد پــــه هــــره لاره
د حــــالاتو ســــرۀ اورونــــه راپيــــښ دي
تــــر منزلــــه بــــه روان اوســــو لايقــــه
پښــــتانۀ يُــــو زمــــونږ کلکــــې ارادې دي

# تعبير

دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

دا د خـوب تعبيـر زمـونږ، ټولـه د يـو كـور پشـان
غيــږه د الفــت لــري ، بــس د خپلــې مــور پشــان
امــن لــوے ارمــان لــري ، دا مــو د احســاس رڼــا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

دا زمـــونږ د ټولـــو نـــه، مينـــه محبـــت غـــواړي
كركه لـه وحشـت كـوي، ژونـد د صداقت غـواړي
دا د مينـــې كـــور زمـــونږ، دا مـــو د جـذبو ښـــكلا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

څو بـه مـو پـه زړونـو کښـې ،کرکـې نفرتونـه وي
ځــو بــه پــه هــر لــوري دا ،جبــر وحشـــتونه وي
څــو بــه پــه ســينه ددې، وي اورونــه هــره خــوا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

دلتـه پـه هـر لـوري چـې، مينـه او بـس مينـه شـي
هـر انســان تـه هلـه بـه، ګرانـه د بـل وينـه شــي
دغـــه يـــو آواز کـــوي، امـــن امـــن هـــره خـــوا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

ځــئ چــې يــو تــر بلــه نــن ، لــوظ د وفــا اوکــړو
خپلـو کښـې لايقـه چـې ، مينـه پـه رښـتيا اوکـړو
هلــه بــه دردونــه مــو ، واړه شـــي دعـــا دعـــا
دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا ، دا دنيـــا زمـــونږ دنيـــا

# غېرت

انـــــداز د محبــــت دے شـــجاعت د پښـــــتنو
دنيــــا تهــــولې مــــنلے دے غېــــرت د پښـــــتنو

شينـدلي ئـې هـمـيش پـه خپلـه خـاوره خپـل سـرونه
پـــاللي ئـــې پـــه نـــره دي د مينـــې ســـوګندونه
ليکلـــي ئـــې پـــه وينـــو دي د حســـن تاريخونـــه
دے شـــان ځکـــه قـــامونو کښـــې اوچـــت د پښـــتنو
دنيــــا تهــــولې مــــنلے دے غېــــرت د پښـــــتنو

د وخـت سـره پـه جنـګ دي بريـالي وو بريـالي دي
بچـــي د ميـــرويس خـــان دي دا بچـــي د ابـــدالي دي
پـــه ننـــګ بانـــدې مئـــين دي لـــه ازلـــه توريـــالي دي
جـــرأت د پښـــــتنو دے حقيقـــــت د پښـــــتنو
دنيــــا تهــــولې مــــنلے دے غېــــرت د پښـــــتنو

هـر څـو کـه د حـالاتو سـرهٔ اورونـه پـرې بليـږي
د جبـر پـه لمبـو کښـې د مـودو راسـې سـوزيږي
بيـا هـم د هـر غـاصب سره خپـل سر وهـي جنګيـږي
لايقــه د ے همــت اصــل عظمــت د پښــتنو
دنيــا تــولې مــنلے د ے غيــرت د پښــتنو

# وياړ

پښتـون ژونـد کښـې قبـول کـړے چرې نۀ د ے
ظلــم جبــر پــه هــيڅ حــال د غـاصــبانو
پـه خنـدا بانـدې ورځـي هـر يـو مقتـل لـه
ويــره نــۀ کــوي لــه وخــت د ظـالمــانو

# د منزل په لټون

پـاتې شــوے د وختونــو لــه کــاروان يــم
بــې منزلــه پــه دشــتونو ګرځــې روان يــم

خپل خلوص خپله پښتو راتـه پېغـور شـوه
لېــونے شــومه دنيــا راتــه سُــور اور شــوه
خپـل نصـيب تـه پـه سلګو يمـه حيـران يـم
بــې منزلــه پــه دشــتونو ګرځــې روان يــم

تــار پــه تــار شــومه کورونــه مــې ورانيــږي
حجـرې ځــۀ چــې جوماتونــه مــې ورانيــږي
نــۀ د ځــان نــه يــم خبــر نــۀ د جهــان يــم
بــې منزلــه پــه دشــتونو ګرځــې روان يــم

دا د جبـر شــپه بــه يــو ځـل صــبا کيــږي
د وحـدت خـوب بـه زمـونږ رښـتيا کيـږي
خيــر لايقــه کــه نــن پــاتې ســر ګردان يــم
بــې منزلــه پــه دشــتونو کښــې روان يــم

## دوه شعرونه

د هـر زخـم نـه بـه ئـې داسـې وينـې ځـاڅي
ژونـد بـه ئـې داسـې در پـه در او نـاقرار وي
چــې پــه يــو تغــر راتــول نــۀ شــي لايقــه
پښـتـانۀ بـه همېش داسـې خـوار و زار وي

# د هغوي په نوم

واؤرئ د امن واکدارانو واؤرئ
د سړيتوب ټهيکدارانو واؤرئ
پښتون په هيڅ حال غلامي نۀ مني
سر ورکوي خو سرکوزي نۀ مني

لږ خو جواب د دې خبرې راکړئ
تاسو په څۀ ګناه بدنام کړو پښتون
څومره په لږه او ارزانه بيعه
تاسو په هر ځائے کښې نيلام کړو پښتون
د خپل غرض او خپل مقصد د پاره
نه مو وحدت کړو نۀ مو قام کړو پښتون
يه د فکرونو قاتلانو واؤرئ
د اولسونو غمخوارانو واؤرئ

پښـــتون پـــه هـــيڅ حـــال غلامـــي نـــۀ منـــي
ســـر ورکـــوي خـــو ســـر کوزي نـــۀ منـــي

پښـــتون تـــه علـــم د ے بـــې حســـه نـــۀ د ے
چې څوک ئې کور څوک ئې مکتب ورانوي
څـــوک ئـــې بچـــي او بوډا ګـــان قتلـــوي
نخښـــې ئـــې څـــوک د ټـــول نســـب ورانـــوي
چـــا ئـــې کلتـــور چـــائې پښـــتو تـــالاکـــړه
څـــــوک ئـــــې خالونـــــه د ادب ورانـــــوي
يـــــه بـــــې لښـــــکره رهبرانـــــو واؤرئ
د دلالانـــــــــــــو دلالانـــــــــــــو واؤرئ
پښـــتون پـــه هـــيڅ حـــال غلامـــي نـــۀ منـــي
ســـر ورکـــوي خـــو ســـر کوزي نـــۀ منـــي

پښـــتون بـــه چـــرې تـــر قيامتـــه پـــورې
ستاســـو د جبـــر قيصـــې هيـــرې نـــۀ کـــړي
بچـــــے بچـــــے ددې ننګيـــــال اوس بـــــه
د ظلـــم دغـــه لمحـــې هيـــرې نـــۀ کـــړي

دا چــې بلیــږي پــرې هــر خــوا لایقــه
څــوک بــه دا بلــې لمبــې هیــرې نــهٔ کــړي
د ترقـــــــــــې دعویــــــــــدارانو واؤرئ
یـــــه د دوختونـــــو غلامــــــانو واؤرئ
پښــتون پــه هــیڅ حــال غلامــي نــهٔ منــي
ســر ورکــوي خــو ســرکوزي نـــهٔ منـــي

# حقیقت

د دار پــه ســر ټپــه کــول دومــره اســانه نــهٔ ده
ګرانــه اشــنا پښــتو پالــل دومــره اســانه نــهٔ ده
په سرو لمبو کښــې د غیــرت او د پښــتو خبــره
پــه خولــه اســانه پــه عمــل دومــره اســانه نــهٔ ده

# جانان

چې راتننګ کړےئې په ماتمام جهان دے
زمـــا قاتــــل زمـــا جانـــان دے
چې هر قدم راسره خوا په خوا روان دے
زمـــا قاتــــل زمـــا جانـــان دے

مخـــامخ لاس د وروروڵــــی راکـــوي
خـو شــا پــه شــا مــې ورانــوي خاپونـه
خپلـــه ماضــي د محبـــت نـــۀ لـــري
زمـــا پښـــتو بانـــدې کـــوي شـــکونه
چې مې رهزن دپاکې مينې د کاروان دے
زمـــا قاتــــل زمـــا جانـــان دے

خبـــرې ۀ ېـــرې د انصـــاف کـــوي خـــو
زمـــا پـــه کـــور زمـــا اختيـــار نـــۀ منـــي
تــل ئــې زمـــا د ســـر ســودا کـــړې ده

جبـــر کـــوي ولـــې اقـــرار نـــۀ کـــوي
چې ئې تـل کـړے پـه وفـا زمـا ګمـان د ے
زمـــــا قاتـــــل زمـــــا جانـــــان د ے

اوس بـــه پـــرې هـــډو يقـــين اونکړمـــه
اوس بـــــه تـــــرې رو رو بدلومـــــه لاره
د وخـــت رنګونـــه بـــه راتـــول کړمـــه زۀ
تـــرې نـــه بـــه ځـــان تـــه جوړوومـــه لاره
چې قتـل کـړے ئې زمـا د زړۀ ارمـان د ے
زمـــــا قاتـــــل زمـــــا جانـــــان د ے

## خامار

چې پـه چـا مـې هميشـه کـړے اتبـار د ے
هـــم هغـــه زمـــا د قتـــل ذمـــه وار د ے
پـه خولـه هـر ځـۀ هـر څـۀ وائـي خـو لايقـه
ښۀ پوهيږم په عمل کښې ،،تور خامار،، د ے

# آزار

چــې وحــدت ئــې لاتــر ننــه تــار پــه تــار دے
پښــتون قــام تــه خپــل نصيب کــړے ازار دے

هســـې يـــو تـــه کلـــه بـــل تـــه ګوتـــه نيســـي
د خپــل حــال پښــتون پــه خپلــه ذمــه وار دے

په خپل کور کښې بس خپل ورور په کاڼو اولي
نــور د ,,غيــرو،، ښــۀ پــه نــره تابعــدار دے

چــې احســاس د خپــل وجــود ورســره نشــته
ځکــه پــروت تــالاوالا دے خــوار و زار دے

چــې رښــتيا مــو تــول خوبونــه کــړي لايقــه
بــس يــو داســې روڼ ســحر تــه انتظــار دے

# وحدت

چې خويونه څوک د ننګ او د پښتو کړي
هغه مياں دے که مُلا دے خو پښتون دے
چې له خپلې پښتو ژبې قربانيږي
که نائي دے که جولا دے خو پښتون دے
چې په راز د پت غېرت باندې پوهيږي
که ترکاڼ لوهار پيدا دے خو پښتون دے

بې پروا چې له ذات پات او له پيغور دے
پښتو نوم د يو وحدت او د يو کور دے

چې پښتو وائي پښتو د هغوي مور ده
داسې نه چې دا ميراث دے د خانانو
پښتو وينځه د بنګلو او حجرو نه ده
نه جاګير دے د څو کسه نوابانو

د پښتو لمن خوره په پښتونخوا ده
دا جامه ده هم نامه د غيرتيانو
هر پښتون د بل پښتون لکه د ورور دے
پښتو نوم د يو وحدت او د يو کور دے

# رواج

ژوند به څو د دار په سر باندې اوده وي
ترينه تاؤ به وي بيړۍ د رواجونو
د حالاتو بدلون غر کوي لايقه
شلول غواړي زولنې د رواجونو

# زۀ به ځم افغانستان ته

زۀ تر خو به مهاجر يم
پروت به داسې در په در يم
بې منزله به تر کومې
زۀ روان کډه په سر يم
يوه ورځ به مې دردونه
حال د زړۀ وائي ارمان ته
زۀ به ځم افغانستان ته
زۀ به ځم افغانستان ته

„جرمني،، ده که „هالينډ،، دے
که دے „فرانس،، که „سوئزرلينډ،، دے
که „بيلجيم،، دے که „ډنمارک،، دے
که „سويډن،، دے که „انګلينډ،، دے
دغه واړه کله رسي
ګران„کونړ،، او „بدخشان،، ته
زۀ به ځم افغانستان ته
زۀ به ځم افغانستان ته

،،کينيــــــډا ،، کـــــه ،،امريکــــــه ،، ده
،،اســــــټريليا ،، کـــــه ،،افريقــــــه ،، ده
کــه ،،نــاروے،، دے کــه ،،پولينــډ ،، دے
يـــا کـــه ،،چيــــک،، ،،ســــلواکيه ،، ده
پــــه څــــو وارې ټــــول لــــوګے شــــه
،، قنـــدهار ،، تــــه هــــم ،،لغمـــان،، تـــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســــــتان تـــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســــــتان تـــــه

زۀ چــــې چرتــــــه هــــــم اوســــيږم
د وطـــــــن خوبونـــــــــه ويــــــــنم
د دنيـــــا پــــه هـــــر ښائســــت کښــــې
د ،،خپــــــل تـــــن،، خوبونـــــه ويـــــنم
بــــې صــــبرې د هـــــر نظــــر مــــې
پـــه ښـــکاره وائــــې جهـــان تـــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســــــتان تـــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســــــتان تـــــه

دغـــــه خـــــړې پـــــړې خــــاورې
راتــــــه ګرانـــــــې لــــــه ســــرو زرو
دغــــــه کـــــــانې غرونــــــــه
ډک د ســــــــــپينو ملغلـــــــــــرو
د ,,کابـــــل،، لارې بـــــه ښـــکل کــــړم
غيــــږ بــــه ورکړمـــــه ,,پغمـــان،، تـــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســـــــتان تـــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســـــــتان تـــــه

کـــــۀ مـــــې زړۀ ,,جـــــلال آبـــــاد،، دے
نـــو نظـــر زمـــا ,,پـــنج شـــير،، دے
کـــــه مـــــې حُســــن ,,ننګرهـــــار،، دے
نـــو ,,هـــرات،، ګــــل د نميـــــر دے
احتـــــــرام لـــــــرم پــــــه زړۀ کښـــــې
هــــر پښـــتون او هـــــر افغـــــان تــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســـــــتان تـــــه
زۀ بـــــه ځـــــم افغانســـــــتان تـــــه

يــــــه د امــــــن دعويـــــــدارو
زمــــا کـــور د امـــن کـــور کـــړئ
نـــور وحشـــت مـــې پکـــار نـــهٔ دے
پرهرونـــــه مـــــې تکـــــور کـــړئ
دا آواز کــــــــــوؤم لايقــــــــــه
د وختونـــــو هـــــر کــــاروان تـــــه
زهٔ بــــه ځــــم افغانســــتان تـــــه
زهٔ بــــه ځــــم افغانســــتان تـــــه

يادګيرنه :- په يورپ کښې د مېشتهٔ افغانانو د خپلې خاورې سره د مينې د اظهار د تاثر لاندې اوليکلے شو.

# بدلون

قانون بدلول غواړي دا رواج بدلول غواړي
انصاف چې پکښې ورک شي نوسماج بدلول غواړي

غريب چې پکښې سوزي د حالاتو په لمبو کښې
چې کونډې يتيمان پکښې ساه اخلي په سلګوکښې
شعور چې پکښې قيد وي د احساس په زولنو کښې
د ظلم جبر داسې هر يو راج بدلول غواړي
انصاف چې پکښې نۀ وي نو سماج بدلول غواړي

ګلاب ګلاب بچې چې ډېرانونو باندې ګرځي
د تږوک ډوډۍ په طمع محلونو باندې ګرځي
چې پېغلې در په در پردو کورونو باندې ګرځي
په چپه خوله خاموشه احتجاج بدلول غواړي
انصاف چې پکښې نۀ وي نو سماج بدلول غواړي

چې وينې پکښې ښنلے شي همېش د غريبانو
مالدار چې ورکښې وژني ضميرونه د خوارانو
زياتے جې پکښې کيږي په بې وسه مظلومانو
مريض چې نۀ رغيږي نو علاج بدلول غواړي
انصاف چې پکښې نۀ وي نو سماج بدلول غواړي

لايقه چې په سوچ او په فکرونو پابندي وي
چې حق وئيل ګناه شي په خيالونو پابندي وي
ليکل چې بغاوت شي په شعرونو پابندي وي
دا ذهن د وختونو د سامراج بدلول غواړي
انصاف چې پکښې نۀ وي نو سماج بدلول غواړي

# ګټه

دے ټول اشنغر ګواه ، ده قيصه خوانۍ ګواه
دلته باچا خان ګواه ، هلته ملالۍ ګواه
هره مجبوري مو د وخت جبر ازمائيلې ده
مونږ په قربانو د ,,پښتونخوا،، نامه ګټلې ده

پټ په دې منزل کښې مو ، شور د يتيمانو دے
سانډې د خوارانو دي وير د مظلومانو دے
څرېکه د هر زړۀ مو تر آسمانه رسيدلې ده
مونږ په قربانو د پښتونخوا نامه ګټلې ده

ډير اوږد تاريخ لري دا ده د مودو قيصه
دا د شهيدانو خوب دا د ميړنو قيصه
دا ټپه د دار په سر مئينو اوريدلې ده
مونږ په قربانو د پښتونخوا نامه ګټلې ده

ځـئ چـې نـن سـلام اوکـړو هاغـه رهبرانـو تـه
سيال ئـې چـې پښـتون کړلـو هاغـه مشـرانو تـه
دا هــره جذبــه لايقــه ښــکلې ده ســپيځلې ده
مـونږ پـه قربـانو د پښـتونخوا نامـه ګټلـې ده*

# تسلسل

,, پښتونخوا ،، چې د خپـل نوم سره اشنا شوه
دا بـــــدل د لازوالـــــه قربـــــانو دے
دا د نــــن خبــــره نــــۀ ده حقــــه دا ده
دا تحريــــک مــــو تسلســــل د زمــــانو دے

* د قيصه خوانئ د غزا د ياد په تناظر کښې اوليکلے شو.

# خاوره

چې مينه ده وفا ده ، چې حسن دے ښکلا ده
غيرت دے هم حيا ده ، چې ستا ده هم زما ده
دا خاوره پښتونخوا ده ، دا خاوره پښتونخوا ده

دا کور د ميړنو دے مسکن د توريالو دے
ستائيلے چې وختونو د مينې په نغمو دے
ليلا ده دلربا ده چې ستا ده هم زما ده
دا خاوره پښتونخوا ده ، دا خاوره پښتونخوا ده

نازيږي پرې نازونه ، زاريږي ترې رنګونه
منلي ئې وختونو ، تول عمر عظمتونه
ښکلا ده هم رڼا ده ، چې ستا ده هم زما ده
دا خاوره پښتونخوا ده ، دا خاوره پښتونخوا ده
روښانه حقيقت دے ، تفسير د محبت دے
لايقه دا زمونږه ، د مينې علامت دے

رښـتيا چې په رښـتيا ده ، چې سـتا ده هـم زمـا ده
دا خـاوره پښـتونخوا ده ، دا خـاوره پښـتونخوا ده
دا خـاوره پښـتونخوا ده ، دا خـاوره پښـتونخوا ده

## اوربل

په هر لور وينې بهيږي
امن نشته سکون نشته
انغرې سارۀ پراتۀ دي
د پښتون وينه خرڅيږي
نو زما د پښتو ناوې !
ماله دومره جواب راکه
زۀ به څنګ ستا په اوربل کښې
د لالا ګلونه ږدمه

# ليونۍ

هره شپه چې سحر کيږي
نو په دغه تروږمۍ کښې
يوه ښځه وي روانه
ببر سر ګريوان شليدلے
نه په خپو کښې ئې پيزار وي
نه ئې سر باندې پړونے
بس په منډه منډه زغلي
کوي ځان سره خبرې
کله شنه شي د خندا نه
کله چغې کړي سلګو کښې
د سيلاب اوبو ته راشي
جولۍ ډکه کړي د کاڼو
بيا سلګو سلګو کښې وائي
شابه اووايه سيلابه
تا زما د ختو ګټو
ديوالونه چرته يوړل
تا زما د ماشومانو

کتابونه چرته یوړل
تا زما د ناوې لُور نه
سرۀ شالونه چرته یوړل
تا په کوم ګناه زما نه
د سر سیورے لرې یوړو
تا زۀ ولې بې اسرې کړم
اخر ولې ... اخر ولې
بیا کړې چغې په ژړا کښې
وائي تا به معاف نۀ کړم
تۀ قاتل ئې تۀ ظالم ئې
د سحر نه تر ماښامه
دغه کونډه مور هم داسې
خړ سیلاب په کاڼو اولي
خلق وائي لیونۍ ده
خلق وائي لیونۍ ده *

* په پښتونخوا کښې د سیلاب د تباهۍ په تاثر کښې اولیکلے شو۔